March 1961 – March 62

کاروان

ادبی، تاریخی اواجتماعی

2- SEP 2 5
Copy ____ 1961

پرله‌پسی ګڼه: ۴۹۸

۱

د نو بهار گل

څو په باغ کښې لا یو گل د نو بهار شته
د بلبلو د طوطیانو پرې چغار شته

نن دې غم له ما نه ځان ساتې که ښه کا
چه په سیل د نو بهار را سره یار شته

چه له یار ه سره زه د گلو کښې کړم
محتسب که را نژدې شی پا یزار شته

شیخ ملا دې زما غم په بهار نه خوری
چه رباب وسریندې غوندې غمخوار شته

نه به زه د میو جام کیږدم له لاسه
نه ز ماله پارسایی سره څه کار شته

ما و خپلې پارسایی ته رخصت ورکړ
په دانور و پارسایانو مې اوس د ار شته

ساقی بیا زما د ښهر خبر و اخله
لا یو څو په کو څو پاتې پرهیز گار شته

گل و مل ساز و سرود ساقی سرې ستر گې
لا به ډیر عالم رسوا کا چه د اچار شته

چه په هر پیاله عقل له ما زد و یې
د ساقی منت را باندې په بار بار شته

د گلو نو په موسم کښې خوار هغه دی
چه بې نه پیاله په لاس نه یې نگار شته

نن هغه شاه جهان د زمانې دی
چه د سته بې د گلو نو په دستار شته

نن خوشحاله دزړه ډاډ د عشرت ورکړه
دا څو ورځې غنیمت دی څو گلزار شته

کابل

وری (۱۳٤۰ ش) کال د (۱۳۸۰ ق) کال د (۱۹٦۱ ع) کال مارچ او اپریل

ادبي ، تاریخي او اجتماعي

امتیاز : دپښتو ټولنې

دپښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر : محمد حسن کاکړ

د تیلفون نمبر : ۲۱۲۹۱

پته : شېر علي خان وات
نوی ښار ، کابل
افغانستان

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیک	لیکوال	مخ
۱:-	دمجلې یو دیرشم کال	محمدحسن کاکړ	۱
۲:-	ځینې تصریفې کتهګورۍ	محمدرحیم «الهام»	۵
۳:-	شیخ ملی	مولانا خادم	۱۳
٤:-	بختوره	الفت	۱۹
٥:-	نوی کال	ژواك	۲۱
٦:-	اشعار	دځینې شعراوو	۲۳
۷:-	شکسپیر	س . شپون	٤۱
۸:-	کابل دتاریخی څېړنو ...	قدرت الله «حداد»	٤٥
۹:-	دکونړ په ساپیو کښې...	عزیز الفت	٤۹
۱۰:-	دافغانستان په معاصر ...	دمعتمد ترجمه	٥٦
۱۱:-	اوی موفقیت	دپښتودا کاډیمۍ دځینو غړو...	٦۱

داشتراك بیه

«په افغانۍ»

په کابل کښې ۴۰

دهېواد په نورو برخو کښې ۴٦

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

دباندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کڼې بیه : ۴

دشپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

دپښتو ټولنې دجاری حساب نمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

2006204653

دمجلې یو دیرشم کال

د برش کاله وشوه چه دا مجله کله د میاشتې یوځل او کله په پنځلسو ورځو کښې پر له پسې راوځی او دادې په دې ګڼې سره دیرش کاله شاته پریږدي ، او په یو دیرشم کال پښه زدی . په دې د غومره موده کښې یې (۴۹۷) ګڼې کښلی او نزدې څلویښت زره صفحې یې چاپ کړې دی

د مجلې هرمخ یوازې سپین کاغذ او تورې نښې نه دی - په هرمخ کښې د زړو وینې ، د دماغونو عصارې - او د ستر ګو او ښکې دی ، ځکه نو څوک یې ژړ ولی - ځینې یې خند ولی او چا ته یې لورې لودن ښو دلی دی. داسې یې هم ډیر اسرار را بر سیره کړی - او د یرو بیعدالتیو او ناروا وو ته یې دخلکو مخ اړولی دی لکه ځینو نورو خپرونو غوندې دیوه او بل ذوق پسې نه ده تللی او - دایې په زړه کښې هم نه دې تیر شوې چه هډ ویوه ته سپکی سپورې ووایی او هغه بل وستایی . هغه لوړ او ماړه ته غوړه مالی و کړي - او دغه په غم ځپلی او لویدلی ته سپورې ستغی و وایې - او په دې ډول ځان وچت کړې او نوم و ګټی

څه چه یې ویلی - او هغه څه چه یې لوستونکو ته وړاندې کړې - یوازې په دې منظور وو چه خلک په خپل ښه او بد خبر کړی - و رته و وایې چه په دې کښې نقص او په هغې کښې فایده ده - هوغه په دغه لاره تللی - او زمونږ لاره دغه ده - یا داچه زمونږ اشنا لاره زړه ده - کنډو کپریې پیدا کړې - او هغه لاره ښه او دتلوده - همداسې هم دغه څه ښه دی - او په هغو نورو کښې لوی تاوان دی په دغو کلک ودریږو - او هغه نو رایسته کړو . دخپرونې لوې منظور همدا و - خوداچه په دې منظور کښې به څومره کامیا به وی هغه دمحیط په فکری سویې او دلیکوالو په قدرت اړه درلود چه د مجلې پخوانۍ پاڼې یې ځواب ور کولی شی .

زمونږ مقصد دادې چه دې خپرونې د وطنوالو په فکری جریان ، او ثقافت کښې رول لرلی - او له دې لارې یې پوره خدمت کړی .

نو اوس که څوک وغواړی زمونږ د ولس په پرونی فکر جریان خبر شی - او په ادب او هنر یې وغږیږی - او کولتوریی وسپړی د دې خپرونې په قدر بیا ښه پوهیږی - دی به مجبوروی چه ټولې پاڼې یې واړوی راو اړوی او له مینځ نه یې دمطلب ټکی راوباسی . سره د دې ټولو خبرو ، دا به درسته نه وی که ووایو مجلې دټولو توقع تر سره کړې . او د

هرچا په ذوق اوفکر یې لیکنې او خپرونی کړی دی دا ځکه چه هر څه چه دادب اوهنر، فکر اوخیال په نامه خلقوته وړاندې کیږی - ټولو ته یوشان نه وی - او نه خلق نرې یوراز خوند اوانتباه اخیستی شی

لویه هیله اسره داده چه اختلاف نه وی. اوخلك په فکراو کړو کښې سره نژدې وی اوهغه څه چه داتحاد اواتفاق په نامه یادیږی. یوازې خیال اولفظ نه وی - بلکه یو واقعیت وی - خود عقل ارفکر خاوندانو ته دا پوره واضحه ده چه یه غواتوره شیدې یې سپینې، یوه ډله خلقوته یو شی ښه ښکاری - او بلې ته هغه بل. ځینې له یوڅه نه خوند اخلی - اوبعضی له نورو نه - څوك ژاړی او ځینې له خندا نه خوله نه شی ټولولی - دوی به په دغه ټینګ ولاړوی او هغوی ته هغه تقدس لری.

ادب اوهنرهم له بل ځای په نه راځی - بلکه هغه د همدغسې ډلو د اجتماعی تطور انعکاس دی. چیرته چه په اجتماعی ژوند کښې اضداد وی موقفونه سره یونه وی اویودبل په قطبیت کښې وی - دفکراوخیال محصولات به یې هم سره یونه وی - اوطبیعې ده چه ادب به یې هم بیل وی، هنراوفلسفه اوهرڅه فکری اومادی شتمنی به یې هم سره مخالفه وی. هو! دلته به ادب اوهنرهم بیطرف نه وی، یابه یوه ته اپرین وایی یا به بل ته. خو داسې به نه شی کولای چه یا د واړه و کنځی اویا ټول وستایی.

داحال په دې خپرونې هم ښه صدق لری - او مونږ یې هیڅکله استثنا نه شو ګڼلی - خو دا به زغرده ویل کیدای شی - چه نیت یې هر وخت ښه و - اودزیانرو خیر اوصلاح یې له هر څه نه مقدم ګڼلی. په دې برخه کښې بله هیڅ خپرونه له دې مجلې سره سیالی نه شی کولی - د مجلې څلویښت زره قدرمخونه ددې ادعا قوی شاهدان دی - دومره ده چه هرقضاوت چه اوس کیږی باید مجردنه وی - اجتماعی حال احوال او هرڅه باید په نظر کښې وی.

تر هرڅه دمخه ژوند کول یو واقعیت دی - د دغه واقعیت قوت نظرهر بل واقعیت ته زیات اوشدیددی. همدغه سبب دی چه دهرې ډلې فکر او کړه باید دهغی ډلې له اجتماعی موقعیت سره مرتبط شی - ټول هغه وسایل او ذرایع چه یوه اوبله یې به کاروی - یاد دې د پاره وی چه خپل خیالات پرې وړاندې بوځی - اویادا چه د نورو دنفوذ مخه ونیسی. ادب او هنرهم د لته لوی رول لرلای شی - اوتراوسه پرې لوی لوی کارونه شوی دی. هغه خدمت چه تراوسه ادب اوهنر کړی - پوره ښکاره دی او ډېر پرې پوهیږی. هیڅ واقعبین انسان ادب اوهنر ته په

بیطرفی نه قاپلیږی- او که دغسې فکرو کړی تر هر څه دمخه به یې دادب او هنر د انکشاف مخه تړلې وی- یاداچه که دا فکر درست وای- ادب او هنر به دتاریخ په دورو کښې دومره په مخ نه وای تللی- او دغه نننی حد ته به نه وای را رسیدلی.

هر فکر هر څنګه او هر راز چه وی- یو راز بل راز ځان ښیی- او خپ وچوپ نه پاتې کیږی- افکار هم دژوند یو په شان حرکت او ډینامیزم غواړی نو ښه به دا وی چه د انتخاب عمل غوره و ګڼل شی او نفی او انکار ته نور بس وویل شی.

دافکارو ډینامیزم طبیعی او زما اوستا له قوت او طاقت نه لوړ دی- که داسی نه وای- ستر مدنیتونه به نه وای- او انکشاف به نه کیدای. انکشاف او تکامل شوی دی- کیږی او کیږی به مونږ دانه شو کولی چه انکشاف خلق کړو- زمونږ لویه وظیفه داده چه په سر او رمز یې پوه شو او قوانین یې کشف کړو- هغه قومونه او ولسونه چه په دغه کشف کښې واقعبین دی- میدان ګټی-

د یوه ولس ټول پخوانی میراثونه ارومرو هر وخت دهغه په ګټه او خیر نه وی. هغسې چه اجتماعی شرایط اوړی او یو وخت بل وخت تغیر کوی- داسې هم په فکری خواوو کښې ځینې عناصر خپل ارزښت بایلی او نو یو ته ځای پریږدی.

هر هغه ولس چه یوازې په خپلو میراثونو کلک ولاړ وی- او نو یو ته یې پام نه وی- د ژوندانه په میدان کښې پاتې کیږی او نور ترې په مخ ځی.

اوس ددې وخت تللی چه نور نو په افتخاراتو ژوند وشی- دنن ورځی ژوند نور څه غواړی. او ورسره ورسره دنن ورځې هنر من او ادیب ډیر څه په مخ کښې لری- تر ټولو د مخه ده ته ښایې چه دولسونو دژوندانه دانکشاف او تکامل په رمز پوه وی او دایې زده وی چه تر اوسه دغه څه شوی او سبا دغسې څه پیښید و نکی دی، دا ځکه چه ننی ادب پر ونی نه دی او یوازی قافیې نښلول شعر نه جوړ وی. لفاظی کول او کلمات نښلول نن ورځ په درد نه خوری- تخیلی او معنایې سیاق او ارتباط د ادب لویه او غوره برخه ده. او دا هغه وخت کیدای شی چه یو څوک یا یو هنرمن په عصری علومو مجهز وی- او د تخیل قدرت یې اسمان ته ختلی او دافادې او بیان په ډګر کښې پوره بیاوړی وی. هغو مره چه دنن ورځې ژوند ډیر پیچلی او انجړ دی- هغسې دادیب او هنرمن په مخ کښې هم غرونه او ګړ نګونه پراته دی. په دغسی انجړ او پیچلی حال کښې توقعات هم ساده او بسیط نه وی-

او له ادیب او هنرمن نه دا هیله کیږی چه د ژوندانه په مبارزه کښې اولا په «دمخنۍ زینه اوپړاو کښې» وی. دا خیال اوس بیخی بې بیخه شوی چه د ادب او هنر په میدان کښې هغه څوك پیاوړی کیدای شی چه له خلقو لری ناست وی او په یوه کنج کښې څله کوی - او هلته الفاظ او کلمات تلی او یوله بله یې سره پیبی - پخوا ځینو شعر همدغسې یو فن باله - چه په دې حساب شاعر هغه څوك کیده چه یوازې د الفاظو او کلماتو په نزاکت ښه پوهیده او تول به یې پوره ورمعلوم و.

اوس هم باید یو شاعر - یا ادیب ته دا الفاظو تول ښه معلوم وی - دا خبره پوره درسته ده، څوك تری منکر کیدای نه شی - او نه دا چه څوك ورته په کمه گوری - مگر اوس د هنر مغز او متن (CONTENT) ته لوی پام دی - چه باید ټاکلی هدف ولری - او روحیه یې پوره اجتماعی وی (په پراخه معنی) داسې چه د جامعې ټولې پدیدې (روحیاتی - فلسفی - اجتماعی هنری - او نور...) په ښه شان په کښې منعکسې کړی - خصوصاً هغه چه نوی سررا پورته کوی او مخ په فوت وی او په نشکل کښې لویه اغیزه لری

هنر نن په دغه مفهوم سره رواج مومی او یو ځای یل ځای لار پیدا کوی. هیله ده چه د دې ځای هنرمن او ادیبان هم ورنه پوره خبر وی تر څو چه یې د خلقو او جامعې په مقابل کښې یې خپل وظایف په ښه شان ترسره کړی وی.

حسن کاکړ

ادب په نوی مفهوم سره

ادب هیڅ ستا توضیحات نه غواړی بلکه تا غواړی یعنی ستا ټول قوت - ستا ټول زړه - ستا ټول فکر او ټوله وینه. ادب غواړی چه ته خپلې ټولې ورځې او خپل ټول کلونه یوازې هغه ته وقف کړې - دی غواړی چه ته به تل تر تله د ژوندانه په اظطرابو کښې یې او هم به همیشه په د مخنۍ زینه کښې - لا د دغې مرحلی د دغو بیخی پر مختلفو کسانو سره به تل اوږه پر اوږه او هم به په کلچر کښې څه تر د مخه یې چه دا هم ستا په لوی زړه او ستا د ذکاوت په رڼا سره. ادب غواړی چه ته دې د هر هغه سړی کوم چه د ټول ژوندانه جوړوونکی دی ډیر واضحه او پوره مطالعه و کړې هغه چه ته یې په ادب کښې د ژوندی کولو له پاره خپل ټول حیات وقفوی - ځکه چه بیله سړی څخه به ادب هیڅ کوم واقعی او رښتیانی وجود ونه لری. کله چه په وروسته کښې ته د مځکې د حیرتنا که قانون په زور سره هغې انتها ته را غلی چیرې چه هیڅوك بیانه گرځی، نو آینده نسلونه به ستا قضاوت او ستا د موجود والی لیاقت له هیڅ یو ې لارې څخه معلوم نه کړی بیله هغې لارې څخه چه ته پرې پوهیدلی او د هغې له مخه نا د خپل وخت یو سړی را ژوندی کړیدی.

الکزاندر مکه دوف

محمد رحیم الهام

دفلا لو جی برخه

ځینی تصریفی کته گوری

(۱)ـ لفظ او معنی دواړه د ژبې اساسی اړخونه دی:

په تېر و څو بحثو کښې مو ځینې گرامری اړخونه ـ یا د ژبې د لفظی سیستم هغه برخه چه له معنی سره نیغه رابطه لری ـ وڅېړل. په دغه لړ کښې مو کله کله د معنی ځینو اړخونو ته هم گوته نیولې ده.

په دې فصل کښې به د ژبې د ساختمان د دغو واحد و نو ځینې نور مهم خصوصیتونه وڅېړو.

د نړۍ مختلفې ژبې لکه چه د صرفی کته گوریو په لحاظ تو پیر لری دگردان دتصریف په لحاظ هم تو پیر سره لری.

(۲)ـ عدد:

په ځینو ژبو کښې ـ لکه اکثره اندوار وپایی ژبې ـ ځینې تصریفی کته گوری چه په ځینو نورو ژبو کښې نشته ـ مثلاً په ډیر و ژبو کښې اسمی یا اسم مانند شکلونه دعدد تصریفی خصوصیت لری. دا خصوصیت په ټولو ژبو کښې نشته چه تر ټولو واضح مثال یې چینایی ژبه ده. په چینایی کښې داسې کلمې چه په معنوی لحاظ اعداد و سره معادلې وی ـ یا د ضرورت په مهال کښې نور اصطلاحات د کمیت د څرگندولو له پاره په کاریږی. دپښتو او چینایی توپیر په دې کښې دی چه په چینایی کښې دعدد څرگندول پخپله خوښه او اختیاری دی ـ خو په پښتو کښې حتمی او اجباری دی. دپښتو هر اسم دساختمان دضرورت په لحاظ یا مفرد وی یا جمع خو په ځینو مواردو کښې دافراد او جمعې مسأله څه اهمیت نه لری. په دغه راز موارد و کښې اعداد یا نور کمیت ـ ښودونکی شکلونه استعمالیږی او د جمعې او افراد توپیر ورسره کیږی.

ډیر و خلکو ویلی دی چه دعدد نشتوالی دچینایی فصاحت کم کړی دی. همدا رنگه ځینې خلکو داسې ژبې چه دعدد کته گوری ولری فصیحی بللی دی. داد واړه نظریې درستې نه دی. عدد د پښتو په گرامر کښې یوه ټاکلې وظیفه تر سره کوی ـ مگر چینایی دساختمان داسې یو سیستم لری چه عدد په کښې شامل نه دی دواړه ژبې خپلې وظیفې اجرا کولای شی او هره یوه ځانته منظم ساختمانونه لری چه په عمومی نظر څه توپیر او امتیاز پکښې نشته. کله چه په خښتو د کومې مانۍ جوړول وغواړو ـ دا خبره مهمه نه ده چه کومه خښته دې باید استعمال کړی شی ـ

خوخښته پکښې استعمالیږی .عدد د پښتو په ساختمان کښې دخښتې حیثیت اری. دچینایی په ساختمان کښې نورې خښتې استعمالیږی.

(۳)-دعدد تعریف:

عدد د داسې کته ګوریو تو پیرته وایې چه صرف یوه فر دیا دوو-یازیاترو افرادوته راجع کیږی او اصطلاحاً د جمع او مفرد په نومو یادیږی دا اصطلاحات زیاتره د دغو کته ګوریو «معنی» څرګندوی.

په دې کښې څه شك نشته چه دعدد کته ګوری د پښتو ترټولو نورو تصریفی کته ګوریو زیاتره ددنیایی تجربو له اختلافو نوسره نیغ ازیکی اری. نو دعدد له شته والی څخه څرګندیږی چه دهغه کته ګوری د خلکو په خپله خو ښه غوره شوی دی. ځینې نورې کته ګوری لازیاتره اختیاری دی خودخارجی نړی له څرګند وپېښو سره هومره نیغ تړون نه شی څرګند ولی .نو د پښتو عدد داسې یو ساختمان دی چه د پښتو په سیستم کښې د تجار بو څرګندوونکی دی-یعنی د ژبې یوه پرخه ده نه د طبیعت.

(۴)-دعدد د کته ګوریو زیاتوالی:

ځینې ژبې سر بېره پرعادی مفرد او جمع دوه یازتره کته ګوری لری. مثلا دلایبریا د «KVU» ژبه یو مفرد او دوه جمعې لری چه د جمعې یو صورت یې د یوه شی پر څو

افرادو باندې او دویم ډول یې دیوه ګروپ او یوې ډلې پرڅو افراد و باندې دلالت کوی په دې اساس د پښتو «سړی» دوه ډوله ترجمه کولای شو. لومړی دغه کلمه دانسان پرڅو مختلفو افرادو دلالت کوی. دویم-دیوې کورنۍ یا دیوه قبر پرڅوتنو باندې اطلاق کیږی. همدارنګه «کتابونه» دیوه کتاب پرڅو نسخو یا پرڅو مختلفو کتابو باندې اطلاق کیږی.

په ځینو ژبو کښې دعدد کته ګوری د درې ډوله وی: مفرد -تثنیه - جمع - تثنیه د یوه جنس پر دو افراد و باندې دلالت کوی- لکه په عربی کښې چه دغه د درې داړه کته ګوری پکښې شته په دې سیستم کښې جمع پردرو یا زیاتر و باندې دلالت کوی. ځینې نورې ژبې هم شته چه دجمعې کوم بل خاص سیستم والری. عبرانی په یومهال کښې مفرد-تثنیه او جمع در لوده جمع پردرو یا زیاترو شیانو باندې - یا پردوو داسې شیا نو باندې اطلاق کیدله چه د یوې جوړې افراد به نه وو. مثلا yaadaim (لاسونه)- دیوه سړی پر دواړو لاسو اطلاق کیده او yaadtin (لاسونه) پر هر درې یا زیاترو لاسو باندې یا به مثلا زما پر لاس او ستا پرلاس باندې دلالت کاوه خوزما پردواړو لاسو یا ستا پردواړو لاسو به یې دلالت نه کاوه.

(۵)-جنس

جنس داسمونو یوه بله کته ګوری ده. داسمونو جنس په متعلقو ضمیر واو همدارنګه

دمطابقت په قسم انعکاس مومي. نود جنس تعریف داسې شوی دی چه دنومونو داسې نحوی ډلې دی چه مطابقت کنټرول کوی.

دنړۍ په مختلفو ژبو کښې دجنس گرامری کته‌گورۍ دشمېر په لحاظ توپیر لری. مثلا فرانسوی-عبرانی او،هندی او پښتو دوه جنسه لری- لاتینی- روسی - جرمنی درې جنسه لری.ځینې ژبې لا زیات جنسونه لری.

په اروپایی ژبو کښې جنس له نارینتوب او ښځمنۍ سره اړیکی لری چه په عنعنی توگه په مذکر مؤنث اومخنث ورڅخه تعبیر کیږی .په ځینو مخنث لرونکو ژبو کښې دغه کته‌گورۍ دمذکر یامؤنث په حیث هم استعمالیدی شی.خو په داسې ژبو کښې چه لکه پښتو یافرانسوی دوه جنسه لری- هراسم به خامخا یامذکر وی او یا به مؤنث . غالباً - مذکر یامؤنث شیان په مخنثو نوموهم یادیږی - همدا رنگه کله کله مذکر شیان مؤنث نومونه او مؤنث شیان مذکر نومونه هم لری .

په ځینو زیاتو ژبو کښې دجنس کته‌گورۍ په نارینتوب او ښځمنۍ پورې څه اړه نه لری چه یوه مهمه اورایجه نمونه یې سا کښې والی او بې سا والی دی . لکه دا لگونکی په ژبو کښې ده کری،ژبه چه د سا کښې ډله یې ټول اشخاص حیوانات- ارواح اوغټې ونې احتوا کوی. خو دالاندې شیان هم په اختیاری ډول سره ذیروح گڼل کیږی :

تمباکو- جواری- مڼه- بڼکه- چایجوشه- موزه- دتمباکو څکولو پایب اوداسې نور .

پښتو کښې ټول مذکر شیان دمذکر په ډله کښې اوټول مؤنث سا کښې شیان د مؤنث په ډله کښې شاملیږی. خو بې سا شیان د صرفی ټاکلو علامو یا په ځینو موارد و کښې د عنعنې په اساس مذکر یامؤنث گڼل کیږی.

دافریقې اکثره ژبې دجنس په سیستم کښې دمطابقت کنترول لری . ددې ژبو یو ژوندی مثال دBABIBA ژبه ده چه په جنوبی افریقې اونایجریا کښې ویله کیږی .په دې ژبه کښې داسمونو لاندنۍ ډلې موندلې کیږی (له هراسم سره یو متعلق صفت د مطابقت د څرگندولو دپاره راغلی دی) :

«یولوی کور»	۱-/dum bake/
«یوه غټه ډبره»	۲-/kpëë bakaru/
«یوستروز»	۳-/boo bakɔ/
«یوستراور»	٤ /bɔmɔm bakɔ/
«یوستره خلا»	٥-/yam bakam/
«یوغټ آم»	٦-/Tam bakasu/
«یوغټ شی»	۷-/gàà bakauu/

دریمه او څلورمه ډله دصفاتو یو ډول شکلونه لری .خو بیا هم په دریمه ډله کښې gê (د هغه په معنی)او په ۳یمه ډله کښې دWî له مطابقت څخه سره بیلولای شی.

دغه اوه جنسه دمعنی په لحاظ زیات تړون نه سره لری .مثلاً ټول هغه اسمونه چه پر اشخاصو

دلالت کوی په څلورمه ډله کښې شامل دی - خو د(اور) - (دانه) - (خوله) په شان کلمې هم په همدې ډلې کښې راځي .

(٦) دجنس نحوی او صرفی کته ګورۍ

جنسونه اساساً نحوی کته ګورۍ دی - خو تصریفی اړخونه او خصوصیتونه هم لری (دباریبا) په ژبه کښې دجمعی دا فکس څو مختلف الومورفونه شته. په ځینو مثالو کښې د مطابقې ډلې (جنس) دڅرګندوالی په لحاظ د جمعې د صورت پیشګویی کیدایشی مثلاً د ۲ یمې ډلې ټول اسمونه د NU دپسینی په واسطه جمع کیږی باالعکس - که د NU په الحاق دجمعې صورتونه معلوم وی نوور څخه څرګندیږی چه متعلق اسم یې له ۲ یم جنس یا ۳ یم جنس سره تعلق لری. په ۳ یمه ډله کښې هغه اسمونه شامل دی چه په SU جمع کیږی . یو څو اسمونه - زیاتره په لومړۍ ډله کښې شته - چه بې قاعدی صورتونه لری.

(۷) دجنس تعریف

په اسمو کښې - جنس د هرمونډ لازمی جنبه ده په بل عبارت اسمونه دجنس په لحاظ تصریف کیږی - خو هر اسم ځانته یو خاص جنس لری . په هغو ژبو کښې چه د مطابقت پوره پراخ سیستم ولری صفتونه غالبا دجنس په لحاظ ګردان کیږی یعنی صفات لازمی جنس نه لری بلکه د هر جنس دڅرګندولو دپاره دمتعلق صورت د غوره کولو دپاره ګردان کیږی مثلاً په پښتو کښې صفتونه په ځانګړی ډول کوم خاص جنس نه لری . مګر کله چه متعلق اسم سره یو ځای شی داسم دجنس په مطابق ګردان کیږی - مثلا - ویل کیږی :

سپین کتاب (دواړه مذکر ،)

سپینه کتابچه (دواړه مؤنث) او داسې نور .

په اکثرو مواردو کښې د وینا دغه دوه برخې (یعنی اسم او صفت) په همدې خصوصیت - پیژندلای شو دژبې نحوی کته ګورۍ په لازمی توګه تصریفی - یا په ریښو کښې ورسره نغښتلی نه وی - بلکه ژبې دلفظی سیستم له بیلو بیلو اجزاو سره په مختلفو ډولو ګډون لری

۸- شخص :

شخص (PERSON) دا فعالو او ضمایرو شریکه کته ګورۍ ده . د پښتو فعلونه او ضمیرونه دمختلفو اشخاصو د مفرد او جمعې د پاره ګردان کیږی . اکثر فعلی صورتونه - د امری صورت په استثنا د شخص دری ګونې جنبې : لومړی شخص - دویم شخص - دریم شخص - د خاتمو په واسطه په څرګند ډول ښئی . دریم شخص (غایب) د پښتو په فعل او ضمیر کښې دمفرد او جمعې او په ځینو صورتو کښې دتذکیر او تأنیث کته ګورۍ لری . ددریم شخص ضمیرونه دنحوی او معنی په لحاظ داسمونو خصوصیتونه لری . دپښتو ددریم شخص

ټول ضمیرونه دذوی العقولو او غیر ذوی العقولو اسمو په عوض استعمالیږی. د دریم شخص دضمیر د جمعې صورت «دوی» د مفرد مذکر او مفرد مئونث پر مجموعې دلالت کوی - په دې ډول : دا (مؤنث) او دی راغلل = دوې (دا + دی) راغلل . په پښتو کښې دا دساکښ او بې ساه د مؤنث او مذکر نومونو په عوض راځی خودوی زیاتره داشخاصو په عوض استعمالیږی

دویم شخص (مخاطب) په پښتو کښې دجمعې او مفرد د دپاره جلا صورتونه لری .

ته - تاسې په افعالو کښې هم - دغه دواړه کته گوری - دفعلی خاتمو په واسطه پیژندل کیږی. ځی - ځیء او داسې نور. دلهجوی اختلافونو له مخې په کندهار کښې د جمعې دپاره دا - ی ء - او - است - دوه صورته په مناسبو تشریح کیدونکو صوتی محیطو کښې راځی لکه : ځیء -- وایاست .

په لومړی شخص (متکلم) کښې هم - په ضمایرو او فعلو کښې دوه صورته په څرگند ډول پیژندل کیږی - زه - مایوازی د ږغیدونکی (متکلم) په عوض راځی. زموږ گرامر پوهان د - زه - ما - دپاره دجمعې یو صورت - موږ - تشریح کوی. خو دلته څه باریکی شته - که چیرې - زه - ما - دمفرد خبرې کوونکی (متکلم) دپاره استعمال شی - نوموږ په دې شرط د زه - ما - د جمعې صورت گڼل کیدی شی - چه د خبرې کوونکو (متکلمین) په عوض راشی. حال دا چه په پښتو کښې - موږ - دمتکلمینو په عوض نه استعمالیږی. بلکه دمفرد خبرې کوونکی او نورو افرادو په عوض (چه خبر کوونکی نه دی) استعمالیږی. نو - موږ - د - زه - ما د جمعې صورت نه دی - بلکه دمتکلم مع الغیر په عوض راځی .

په ځینو نورو ژبو کښې - مثلاً د «کری» په ژبه کښې - یوه کته گوری دمتکلم او مخاطب د واړو په حقله راجع کیږی چه جامع متکلم

ENCLUSIVE FIRST PERSON

ورته وایی . یوه بله کته گوری پر متکلم او له مخاطب څخه پرته پر بل چاباندې اطلاق کیږی چه مانع متکلم EXCLUSIVE FIRST PERSON ورته وایه شی .

(۹) بعید او قریب ضمیرونه :

په ځینو ژبو کښې دریم شخص دقریب او بعید مختلف ضمیرونه لری . لکه د «کری» په ژبه کښې چه نژدیوالی او لرې والی په ضمیرو او افعالو کښې یوه تصریفی کته گوری ده . په دی ژبه کښې قریب دنژدې یا لومړی ذکر شوی شی - یعنی د مئوکد شی په عوض استعمالیږی . بعید د لری یا دویم ذکر شوی شی - یعنی د غیر مئوکد شی په عوض راځی. پښتو دضمایرو یا افعالو دا خصوصیت نه لری خو ځینی داسې کلمې په کښې شته چه دغه ډول وظیفه ترسره کوی. دالاندې

عبارتونه وګوری ء: زلمی او محمود راغله.
لومړی ډیر ښه هلك دی او دویم «یا وروستی»
یې ښه هلك نه دی دلته «لومړی» زلمی ته او
«دویم» یا «وروستی» محمود ته راجع کیږی.
نو دا «لومړی» د قریب ضمیر او «دویم» یا «وروستی»
د بعید ضمیر حیثیت لری. دا کته ګوری په
څرګند ډول سره له «دغه» او «هغه» سره
توپیر لری. ځکه دا اشارې د مکان لرې والی او
نژدې والی څرګندوی - او بل دا چه وروستی او-
لومړی - په شان صورتونه اختیاری دی -
یعنې مفهوم یې په بل ډول هم بیانیدای شی -
خو - دغه - او - هغه - غوندې شکلونه اجباری
او حتمی دی:

(۱۰) - اشارات

اکثرې ژبې داسې کلمې یا افکسونه لری
چه په مختلفو ټاکلو مناسبو ځایو کښې
استعمالوی - د دغه ډول شکلونو یوې ډلې ته -
اشارات وایی. پښتو درې ډول اشارې لری:
دغه - هغه - او په ځینو لهجو کښې هوغه. د دغو
درې واړو صورتو توپیر د لرې والی او نژدې والی
په اساس دی. دغه نسبتاً نژدې شیانو ته - هغه
نسبتاً لرې شیانو ته - او هوغه نسبتاً لالری شیانو ته
راجع کیږی. دا درې واړه صورتونه د تذکیر
او تانیث او د مفرد او جمعې کته ګوری
هم لری

	نژدی	لرې	لالرې
مذکر مفرد	دغه	هغه	هوغه
مذکر جمع	دغو	هغو	هوغو
مونث مفرد	دغې	هغې	هوغې
مونث جمع	دغو	هغو	هوغو

د پښتو په ځینو قیودو کښې هم دا خصوصیت
شته. - دلته - ونژدې ځای ته او - هلته - ولرې
ځای ته راجع کیږی دا شارانو د توپیر ډولونه
په مختلفو ژبو کښې توپیر لری. فارسی او
انګلیسی دوه ډوله اشارې: THIS (این) او THAT
(ان) لری. په لاتین کښې درې ډوله اشارې
شته خود توپیر اساس یې بل خصوصیت لری:
HIC غالبا متکلم ته نژدې /Iste/ مخاطب
ته نژدې او /ille/ مخاطب او متکلم څخه
لری معنی لری.

په دې ډول ژبو کښې د ترجمې له امله
ځینې مشکلات پیښیږی مثلا د لاتین په «دغه» په
هغه ترجمه کولی شو خود ترجمی د قرینې
په لحاظ کله په دغه او کله په هغه کیږی.

په ځینو ژبو کښې د لیدل کیدونکو او
نه لیدل کیدونکو شیانو د پاره هم اشارې شته
له دې امله چه لیدل کیدونکی شیان نسبت
ونه لیدل کیدونکو شیانو ته نژدې وی نو په
(دغه) او (هغه) یې ترجمه کولی شو. خو دا
ترجمې د وینا کوونکی له هدفه سره سمون
نه خوری او کله کله له اصلی غرض دا متناقص
واقع کیږی.

(۱۱) دمعرفه کولو کلمې ARTICIES

دمعرفه کولو کلمې داشاراتو په شان دی. داډول کلمې دنړۍ په اکثرو ژبو کښې زیاتی نه وی. ځینې ژبې یوه دغه ډول کلمه ـ ځینې دوه یادرې داراز کلمې لری او ځینې بې بیخی نه لری. دیوې ژبې د دغه ډول کلمو له یاره په بلې ژبې کښې د معادلو صورتو په موندلو کښې ستري غلطۍ پېښیږی. مثلا په عبرانۍ کښې «دسره زرښه دی» (په انګلیسی کښې Gold Is good) د پاره «طوب هذهب» Toob hazzàab وایی چه په انګلیسی په The gold is good) ترجمه کیدای شی او دا کره انګلیسی نه ده. ځکه چه له اسم ماده سره THe نه راځی او که راشی نو مرادیې یو مخصوص شی وی. حال دا چه په عبرانی کښې داسې اسمو نه شته چه دانګلیسی له اسم ماده او اسم جمع سره سمون وخوری. مګر د عبرانی ـ ha دانګلیسی له THe سره برابر دی.

په عبرانی کښې د ـ ha استعمال په ټولو دغه شان مواردو کښې حتمی وی خو په انګلیسی کښې کله حتمی او کله اختیاري وی. نو دمعرفه کولو کلمې په ځینو ژبو کښې دلته په انګلیسی کښې یوه ساختمانی علامه وی او په ځینو ژبو کښې نه وی.

(۱۲) ـ اجتماعی موقف

په اکثر وژبو کښې یوه داسې کته گوری هم شته چه په محاورو کښې داشخاصو د اجتماعی موقف او حیثیت له مخه استعمالیږی. داشی په مختلفو ډولو اظهار ږیږی. مثلا په تبتی کښې داسې مشابه یا عین کلمې شته چه په معنی کښې تو پیر نه لری خو صرف هغه وخت استعمالیږی چه داسې یوسړې مخاطب وګرزولی شی یا دهغه په باب څه وویل شی چه اجتماعی لوړ حیثیت ولری دالا ندې مثا لونه چه معنوی یووالی او لفظی اختلاف پکښې لیدل کیږی وګورئ.

معمولی		لوړ حیثیت
سړی ـ	go	U
فکر،	sampa	gongpa
او به،	chho	Chhab
ژړا،	nguwa	Shumpa

په پښتو کښې دغه ډول کته گوری ښایی چه د نور و ژبو په تقلید پیدا شوی وی مثلا په ځینو ځایو کښې دمفردو برمنا کو اشخاصو دپاره دجمعې ضمیرونه او افعال استعمالیږی:

عادی (جمع)	جګ حیثیت (مفرد)
موږ	موږ
تاسې	تاسې
وخورئ!	نوش جان کړئ!

اویادغه نور مثالو نه

عادی جگ حیثیت

په وړ اندې په حضور

هو! بلې!

ووژل شو شهید شو

مړ شو وفات شو اوداسې نور.

په ځینو نورو ژبو کښې ددغه ډول صورتو داستعمال ډولو نه ډېر مغلق دی او په بیلو بیلو مواردو کښې د ژغید ونکی - اوریدونکی یا دهغه سړی چه ورڅخه خبری کیږی - یا ددغو اشخاصو دمجموعې د ښیګڼی حیثیت او مقام ددرجې په واسطه مشروط کیږی.

که څوك و غواړی چه یوې ژبې ته ترقی ور کړی یاهغه ژبه و څیړی نود ژبې خصوصیتو نه دې دهمهغې ژبې له ژغیدونکو څخه زده کړی او هغه نور خلك دې د خپلو څیړنو اساس ونه گرزوی چه له هغې ژبې څخه بیگانه وی او پوره خبرتیا ورڅخه ونه لری.

(۱۳)-ددې فصل د څیړنو لنډیز او نتیجه

په دې فصل کښې مو ولیدل چه ځینې کته گوری د ځینو ژبو دوینا داجزاوو له ځینو ډولو سره لازمی تړون لری. مثلاو مولیدل چه په ځینو ژبو کښې عدد اساسا داسمونو یوه کته گوری ده. خو دا خبره موهم جوته کړه چه د ځینو ژبو په خلاف عدد په پښتو کښې یوازې داسمونو نه بلکه دافعالو کته گوری هم ده.

داخبره دې هم باید هیره نکړی شی چه داسی گرامری کته گوری به نه شی پیدا چه دنړی په ټولو ژبو کښې دیوه ډول کلمو لازمی اوحتمی خصوصیت وی. هره ژبه ځانته خصوصیتو نه لری او که څه هم ځینې ژبې مشابه اوسره ورته کته گوری لری خو بیا ځینې نورې ژبې چه له کوم بیل کولتور او ثقافت سره اړه ولری ځانته بیل او مخصوص ژبنی خصوصیات لری. پای

وصیت

چه خازې شنې مې په قبر وی ولاړې که غلام مړوم راځیء تو کړیء پرې لاړې

که پخپلو وینو نه وم لمبېدلی په ما مه پلیتویء د جو مات غاړې

چه قطرې قطرې مې پوځ دانگریز نه کا موږ ې ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې

یا به دا بې ننگه ملك باغ عدن کړم

یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې (غنی)

نومیالی پښتانه

مولانا خادم

شیخ ملی

شیخ ملی د پښتنو په تاریخ کښې یو مشهور سړی دی. د پښتو د ادبیاتو تاریخ، د پښتنو د مهاجرتونو تاریخ، د مشاهیرو او نوابغو تاریخ، او بالاخره د پښتنو اجتماعی او د دنیا د اقتصادی سیستمونو فلسفه د پښتون قام دغه لوی مفکر او د لوړ عقل خاوند او روحانی شخص نه شی هیرولای. شیخ ملی د پښتانه قام د نوی نهضت او نوی حرکت لار ښوو و نکو د پاره دغو را ود قت ټکی دی. د دی وخت په څېړنو او تالیفاتو کښې له ډیرو خو او څخه د شیخ ملی یاد ګېرنی او نوم اخستلو ته اړتیا پېښیږی - او ډیر هم یاد شوی دی. مګر تر اوسه لا د دغه مشهور او نامتو سړی په باب کافی او قانع کوونکی معلومات لاس ته نه دی راغلی. خو د امید خبره ده چه د شیخ ملی په باب هره ورځ د معلوماتو دائره لوئیږی او پراخیږی. پخوا مونږ سره د شیخ ملی په باب د خوشحال خان د دیوان دیو بیت او د زړو تاریخونو د کوم مختصر ذکر او د قومی روایاتو څخه پرته چه هغه هم خورا مجمل وو - نور څه په لاس کښې نه وو. خو اوس چه پښتانه ایکوال د خپل پښتنی ثقافت د تازه کولو او راسر بیره کولو خواته متوجه شوی دی - نو په هره خوا کښې ګوتې وهی او د کار خبرې پیدا کوی.

لس شل کاله مخکښې د پښتانه قام په ځینو ولسونو او سیمو کښې څه عجیب او غریب رواجونه او قوانین موجود وو - دغه عجائب خو څه د نوی تمدن او تهذیب د راتګ او رواج - او څه د پښتنو په ایالاتو د پردو او اجنبی وګړو د سلطی په واسطه له منځه تللی او څه لا اوس هم په ځینې ځایو کښې موجود دی. یو له دغو ځانته او علیحده رواجونو څخه د ځمکو د ویش دود وو - چه په سوات، بونیر باجوړ او د پښتنو په ځینو نورو ایالاتو کښې

یې رسوخ درلود- ددې قانون په مطابق به هر دولس کاله پس دیوولس ټولې ځمکې دخلکو له لاسه ایستل کیدلې- ګډې او مشترکی به شوې او بیا به دنوی ویش او تقسیم په اساس دقام په تپو کورونو او افراد و توزیع کیدلې. یعنې د یوې حوزې او ساحې د ځمکې مالك فقط هماغه قوم و چه دغلته به اوسېده. دافراد واو کورنیو او تپو مالکیت او داستفادې حق موقتی او د څه وخت دپاره و. مدعا داچه فرد د ځمکې مطلق مالك نه و- بلکه موقتی او مشروط مالك و، البته قوم او ولس د خپلې سیمې مطلق مالك ګڼل کیده.

داقسم ویش به دولس دولس کاله پس یو ځل کېده. په دې اساس نه څوك بې ځمکې پاتې کیدی شو او نه دډیرې ځمکې خاوند کېدی شو. د ځمکې دخرڅانه او پیرودلو حق هم هیچا ته حاصل نه و او لکه چه ځمکه په وراثت هم نقل کېدی نشوه. نو هیڅ ضرورت هم نه و چه یو سړی بل یو په ځمکه او پوله پټی ووژنی.

یوه له عجائبو څخه داهم ده چه دغو ولسونو له هغه وخته څخه چه په افغانستان او هند کښې دپښتنو حکومتو نه کمزوری شوه او سقوط یې وکاوه- خپل مرکزی حکومت یې نه درلود. مګر له بلې خوایې یو عجیبه قسم لا مرکزی حکومت درلود چه ډیر قوی او نافذ الکلمه و. یعنی دغیر دائمی شورا حکومت. داداسې وچه دوړو وړو حوزو خبرې او داخلی حوادث خو به دهماغه ځای دمحلی جرګو مشرانو فیصله کول- خو چه غټه او ولسی قضیه به پېښه شوه- دټول قوم مشران به راغونډیدل او په جرګه به یې فیصله وکوله بیا به نو دجرګې دتصویب اجرا هر فرد خپله لومړنۍ فریضه ګڼله. جزاګانو او تعذیراتو هم عجیب شکل درلود. مثلا غټې ګناګانې چه قتل او دمېړو ښې ښځې تښتول یا بې ناموسی او داسې نورو و- که مجرم به لاس ته راغی او دقوم جزاته به یې غاړه کښېښوده- نو دقوم درواياتو او دجرګې دفیصلې په اساس به سزا ورکول کیده او که و به تښتید- نو دهغه جزا داوه چه دقام له جملې څخه به ووت- او له ویشه به دده پچه وغور زول شوه او که تښتیدونکی به داسې مجرم و چه باید وژل شوی وای نو جرګې به پرې ده کشنده حکم کاوه یعنی داچه که چامړ کړ پوښتنه یې نشته.

خلاصه داچه ددنیا ددې عجیب او ساوو قوم په منځکښې ددقت او ملاحظې ډېر څه وو او ډیر څه لاشته دا به ډیر لوی ظلم وی که د دغسې تاریخی او قوی ثقافتونو خاوندانو قومونو پسې دشاړو، وحشی- قاتل او غارتګر یا بداخلاقه په عباراتو پروپاګنډو شی. مګر افسوس دی چه ددغه قوم پسې ددوی قوی دښمنانو په ټوله دنیا کښې دغسې پروپاګنډ کړی دی، او دنیا یې خطا ایستې ده.

زما څېړنه په شیخ ملی بابا ده. شیخ ملی دخپل وخت لیډر- مشر- مفکر او لیکوال و. د ځمکو

دغه قسم روایتی ویش چه تر اوسه هم لا دباجوړ په سیمه کښې شته - د شیخ ملی دفکر نتیجه ده. شیخ ملی په دې باب یو کتاب هم لیکلی دی چه دغه قسم ویش ته یې قانونی شکل ور کړی دی.

دا کتاب «د شیخ ملی دفتر» نومیږی. د کتاب دنامه په اساس اکثره پښتانه اوس هم «پټی» او د کروندې ځمکې ته «دوتر» وایی.

لکه طلا ته چه اوس هم ټول پښتانه «اشر پی» وایی. او دادشاه اشرف هوتك باچا نامه ته منسوبه ده یو وخت چه ما د دغو قومونو د ځمکو د دغسې ویش قصه واوریده سخت په حیرت او تفکر کښې ولویدم.

ماویل په دې صورت خو به د ځمکې سره هیڅوك علاقه نه ساتی - ودانی به نه کوی. کورونه به نه جوړوی - او په عائداتو او محصولاتو کښې به ډیر تاوان او نقص پېښیږی مګر پنځه شپږ کاله مخکښې چه ماته دباجوړ د سفر موقع په لاس راغله او په (چمر ګنډ)، (ناوګی) (چارمنګ) (کوټګی) (خلوزو) او (مروره) باندې تیر شوم ماته معلومه شوه چه دغه خلك د پښتنو د ډیرو قومونو څخه ودان، ماړه، روغ رمټ، خوشحاله، آزاده او مست وو. ما هغه ښځې ولیدې چه د نارینه و سره به یې یو ځای کارونه کول - دوی به غاړې نه دلمنې پورې په سپینو رو پیو کښې پټې وې. او د هر سړی په غاړه به اصیل ټوپك یا تمانچه وه. نو حیرت مې لا پسې زیات شو. ما واوریدل چه دا خلك د تقسیم په وخت کښې خپلې و دانې ځمکې - کورونه - باغونه او جائدادونه په ډیره خوشحالۍ پریږدی - او یو تر بله یې تبدیلوی.

اوس راشیء د حضرت شیخ ملی (رح) په باب لږ زیات معلومات چه په «دوران» مجله کښې د ښاغلی نصرالله خان نصر په قلم خپاره شوی دی ولولیء:

د شیخ ملی (رح) اصلی نوم «آدم» دی. د پلار نوم یې یوسف او په قام یوسفزی دی. د پښتنو د ملا تړ له برکته چه سلطان محمود غزنوی د کال ۳۹۰ هـ څخه تر ۴۱۵ پورې له هندوستان نه څو مره ځمکې ونیولې په دغو ځمکو کښې (دروه) هغه سیمه چه پرنګیانو صوبه سرحد بلله هم شامله وه. هغه وخت په دغه ځمکه (دلازاك) قوم ودان شو. کوم وخت چه د تر کو او پښتنو خپلو کښې زړونه بد شول او ګوزاره سخته شوه - د پښتنو یو څو قومونو له افغانستانه د سرحد د صوبې لور ته هجرت وکړ. د کندهار د ارغستان د سیمې د غوړې مرغۍ یوسفزی چه د ننګرهار په لار د سرحد صوبې ته په کډه راتله د شیخ ملی نیکونه هم ورسره وو. پېښور ته چه راورسیدل - (دلازاکو) یې درناوی وکړ او په پېښور کښې یې ځای ور کړ. کوم وخت چه د پښتنو او ترکانو (مغولو) اختلاف ډیر زیات شو او یو د بل غوښو ته کښېناستل - (دلازاکو) د مغولو پره وکړه - مګر هغه وخت چه د یوسفزو کومك ته نور پښتانه قومونه راورسیدل - نو اول یې د (دلازاکو) سره د حساب سپیناوی وغوښت.

دغه وخت د (دلازاکو) او نورو قومونو په منځ کښې ډیر خونړی جنګونه واقع شول چه

همدغه د دښمنانو مدعا وه. په اخره کښې (دلازاکو) میدان بایلود او بری د یوسفزو په برخه شو- ملك یوسفزو واخست- او د سوات پورې ځمکه د یوسفزو لاس ته ورغله څه موده پس بیا دوی هم یو بل ته بد نیته شول- او په ځمکه یې جنګونه راواخستل. په دغه وخت کښې د شیخ ملی او شیخ احمد برکت چه د پښتنو سیاسی او روحانی مشران وو- په پوهه، هوښیاری او د تورې او قلم په درلودلو یې شهرت لاره په پښتنو کښې بیا اتفاق پیدا شو. شیخ ملی پېښور نه (سوات) پورې ملك په (مندړو)- (لغمانو)- (ننګرهارو)- (اکوزو)- (عیسی زیو)- (خلیلو مهمندو) (ګیګیانو)- (محمدزو)- او (یوسفزو) باندې د سرشمېر په لحاظ وویشه. دغه ویش د شیخ ملی دویش په نامه شهرت وموند- دویش په وخت کښې دختکو قام په وزیرستان کښې ودان و- د پېښور نه اټك (اباسیند) پورې علاقه د خلیلو برخه شوه. دویش نه وروسته شیخ ملی په یوه لویه جرګه کښې وویل چه: «دا ځمکه د خدایتعالی ده- مونږ دهغه مخلوق یو- مونږ ته په کار دی چه د خاوند د رضا سره سم په دې ځمکه واوسیږو. د دې ځمکې مثال داسې دی لکه یو سرای چه یو ترې ځی او بل ورته راځی.» شیخ ملی د ځمکې دویش د پاره قوانین کښېښودل او لارې یې وایستې دا قوانین یې د کتاب په صورت و کښل چه د شیخ ملی دفتر یې بولی. لکه چه خوشحال خان وایی:

په سوات کښې دی دوه څېزه یو جلی دی بل خفی
مخزن د درویزه دی بل دفتر د شیخ ملی

اخون درویزه د شیخ ملی دویش په باب داسې لیکلی دی: «یوسف زیو و چه د سوات مملکت ونیو- شیخ ملی دا مصلحت ولید چه د ټول ولس واړه لوی- نرښځې- حساب کاندې او سوات ورباندې تقسیم کړی- اکوزی د یوسفزو سره شپږ زره شول. مندړ هم د ولس زره شول- مګر ننګرهاری- لغمانی او کابلی چه دوی سره وو- و رسره یې حساب کړل» د شیخ ملی د دفتر د قوانینو یو څو مثالونه دادی:

(۱) ټول قومونه به د ولس کاله پس خپلو کښې د پچی (قرعه) په ذریعه ځمکې ویشی. یعنې د کوم قوم پچه چه د کومې ځمکې راووته- هغه قوم به په کډه هغه ځمکې ته د دولس کالو د پاره ځی.

(۲)- که چېرې د دوه و وقومونو منځ کښې غروی- د هغه غربلرانی او به چه کوم قوم پلو بهیږی هغه ځمکه به هم د هغه قام تصور کیږی.

تبصره: د ځمکو د ګروپونو جوړولو د پاره به خیال کیږی چه ودانې- شاړې- آوی- بارانی سمې او غریزې منطقې په عدالت سره برابرې کړی شی- او بیا وروسته د قومونو د سر د شمېرو په حساب ورباندې پچه واچولی شی.

شیخ ملی هم په هماغه وخت کښې دغه خیال ساتلی و. دغه ویش هغه وخت پښتنو ډېر خوښ کړ

نوی روح یې په کښې پیدا کړ- د و یش قوانینوته به یې په درانده نظر کتل- د و یش د قوانینو خلاف کار به یې لویه ګناه ګڼله. کوم وخت چه د پښتنو ملك ته د انګریزانو حکومت راغی- د شیخ ملی دځمکو د ویش څه موادپخپله دانګریزانوحقوقیونو اوقانون- پوهانوومنل - او حتی په بین المللی مسائلو کښې ورته په اهمیت قایل شول. خپله ډیورنډ د غرونو په ویش کښې دشیخ ملی د(ابریزی) ماده قانون وګاڼه- او دغه شان یې چه څنګه خو ښه وه خپل منحوس خط د پښتو نخوا په منځ کښې کش کړی وښود. دشیخ ملی ویش په پښتنو کښې ډیره موده دوام وکړ.

په ۱۸٤۹ ع کښې چه انګریزان د سرحد صوبې ته راغلل- دسرحد په صوبه کښې لاهماغسې ډیرو پښتنود شیخ ملی د دفتر په اساس دځمکو فیصله کوله. د ۱۸۷۰ ع په سرشته کښې دقبائلوی ایجنسیو څخه علاوه نورې څو مره ځمکې چه چاسره وې- حکومت دهماغو په نامه ثبتې کړې. په ۱۹۲٦ ع کښې چه پرنګیانو عالیجاه عبدالودود ګل شهزاده دسوات و الی و مانه دده دحکومت په دوره کښې هم دشیخ ملی دویش رواج دوام درلود - چه څوده دویش قانون منسوخ کړ: هغه وخت کښې چه چا کومه ځمکه خوړله- هماغو پسې یې ولیکله. دمله کنډ ایجنسۍ دتانې علاقې او سیدونکی دځمکو په باب دپخوا زمانې دویش په ډیرو قوانینو عمل کوی. دغه رنګ دهزارې دضلعې دویشان (دتکری علاقه) سواتیانو دخپلو پخوانو مشرانو یادتر اوسه پورې تازه ساتلی دی. دوی هم هغسې دشیخ ملی د زمانې په شان دځمکو ویش کوی. نن سبا د دوی د ویش لار په لاندې ډول ده: دتولو تبرونو دمشرانو نومونه په بیله بیله پاڼه ولیکی. بیا داتولې پاڼې دیو کوچنی ماشوم په ځولۍ کښې واچوی. دیوې ونې لاندې یې کښینوی مشران ورنه کیر چاپیره کښینی اول یوکس دځمکې دیوې برخې نوم واخلی ور پسې ماشوم دځولۍ - نه یوه د کاغذ پاڼه راوباسی- په پاڼه کښې چه دچا نوم راوخیژی- هغه ځمکه د دولسو کالو د پاره د دغه قوم شی. منشی دهغه نوم په کتاب کښې ولیکی. ځمکه ښه وی که بده - په خوشحالۍ یې قبلوی. دغه ځمکه بیا دقام دمشرله خواد کورنیو افراد و په سرویشل کیږی. ښځې او نران مساوی برخه لری. کومه ښځه چه دقام نه دباندې واده شوې وی دهغې برخه وسوزی. دخاندانی برخو څخه علاوه دمعنوی خدماتو په عوض کښې هم وګړو ته برخې ورکول کیږی (په پښور کښې اوس هم ټول مساجد برخې لری) دغو برخو ته (سپری) وایی. دویشان وګړی دویش ورځوته که د دنیا په هر ګوټ کښې وی ځان را رسوی. دویش نه پس هرچاته چه هره برخه ورسی- په

خند اخوشحالیء جرګه خپره شی - د ډیرې خوشحالۍ نه هوا یی ډزې وکړی. هر څوک خپل خپل ځای ته ځی.

د سرحد د صوبې په ځمکه چه د پرنګیانو قبضه ټینګه شوه- نو د هرې ژبې د علمی ادبی اثارو قلمی نسخې یې راغونډی کړې. په دې سلسله کښې د شیخ ملی دفتر د پښتو ژبې مشهور مستشرق (میجر راورټی) ته په ګوتو ورغی د یر زیات پرې خوشحاله شو. او کتاب یې بریټش موزیم ته وسپاره، چه هلته اوس هم پروت دی. په ۱۸۵۵ع کښې چه راورټی د پښتو ګرامر ولیکه د دغه کتاب په سریزه کښې یې د شیخ ملی د دفتر د کتابت تاریخ ۱۴۱۷ع لیکلی دی. ښایې چه دغه تاریخ د استنساخ تاریخ وی- نه د تصنیف تاریخ. اخون درویزه وایې:

کوم وخت چه ښاغلی شیخ ملی د مرګ په دروازه پښه کښېښوده- نو عقیدتمندان یې ورته راغلل ده هغوی ته وویل: «ما په خپل عمر کښې دولس خدمت خاص د خدای د پاره کړی دی» ده ویل: په ټول عمر کښې مې یو درهم یاد دی چه لاس ته مې راغلی و- لیکن هغه مې هم په څه تمه او لالچ نه واخستی. که چرې زه رښتنی یم نو زه له خدایه هیله لرم چه زما د ویش په دود باندې به زما ولس تراوو پښتو پورې عمل کوی» اوس معلومه شوه چه شیخ ملی رښتینی و.

تاریخ ثابته کړه چه داوو پښتونه پرې زیاته موده عمل وشو.

د پېښور په تاریخ کښې د شیخ ملی د اولاد شجره چاپ شوې ده. لیکن د مأخذ حوالې په کښې نشته. ځینې تاریخ پوهان وایې چه ملی زی قوم د شیخ ملی اولاد دی. لیکن د تیراه شیخ ملی خیل قوم دعوه لری چه شیخ ملی زمونږ نیکه دی. په تیراه کښې د شیخ ملی په نامه زیارت شته چه متولیان یې هم د دغه شیخ ملی خپل دی. د تیراه اپریدی چه د شیخ ملی په نامه څه منښته وکړی- نو دغو شیخ ملی خیلو ته یې ورکوی. نن سبا دغه خیل کښې ملک نیاز محمد مشر او سپین ږیری دی له بلې خوا د پېښور خلک وایې چه د شیخ ملی بابا زیارت په هشنغر کښې د (بولې بابا) د ځنګله هدیره کښې دی. د یوسفزو خلک په دې اتفاق لری چه د شیخ ملی بابا قبر په مردان کښې دی- او په (ملی بابا) مشهور دی. دغه شان نورو علاقو کښې هم د شیخ ملی بابا په نوم زیارتونه شته. زما په عقیده د ازیارتونه د شیخ ملی بابا د ناستې ځایونه دی. وروسته ور باندې قبرونه جوړ شوی دی. نصر ملګری په اخره کښې وایی: «د تیراه زیارت یې راته اصلی ښکاری».

(پای)

الفت

بختوره

داښځه څلو ېښت کلنه ده، مګر په خواره جامه کښې اوسی، اوخوراك يې هم خوار دی، ځکه له خپل عمر نه زياته پخه معلوميږی.

داغريبه په خوارۍ او مزدورۍ شپې ورځې تېروی اوخپل بچی په هلوځلود يوه او بل په مزدورۍ ساتی. مګر په همدغه حال کښې يې خپل يوزوی په مکتب کښې اچولی اوداولاد تعليم ته يې هم توجه شته.

زه ددې ښځې له حاله ډير خبر نه يم که څه هم دواړه ديوه کلی يو اويووخت مو کور ونه ډير نزدې وو، ځکه چه زه ډيره مو ده پخوا له دغه کلی نه ښار ته راغلم اود کلی ژوندمې پر ېښود.

سربېره په دې، په مونږ کښې داخوی هم شته چه که څوك لږغوندې معتبرشی هغه بيا دمځکې خلق نه وينی اودخوار و غريب په حال وړ وند او کوڼ شی.

مګر بياهم په وړند و کښې ديوې سترګې خاوند پاچادی اودغه راز پاچائی ز ما په برخه رسېدلی ده.

زه تر ډيره حده زيار کږم چه د کونډورنډو او خوار وغريب له زړه نه خبرشم دهمدې له امله ددغې ښځې حال راته لږغوندې معلوم دی اودومره خبريم چه ددې يومېړه مړشو نو په هماغه کلی کښې دهغه تر بره پرې نکاح وتړله چه له دېنه ډير مشر واوخپل عمر يې خوړلی و.

دغه بوډا شاه زلمی دوه کاله پس په حق ورسېده اودا بختوره ښځه بيا کونډه شوه يوه ځوا نه يا نيمزالې ښځه چه دزاړه بوډا له قيده خلاصه شی ستاسو خوښه چه بختوره يې ګڼۍ او که نه. زه خوورته بختوره وايم (که څه هم اصلی نوم يې بل دی).

هوا بختوره دوهم ځل بيا کونډه شوه اودغه نيکبخته يابد بخته کونډه يوه ورځ سرماتې اولاس ماتې محلی حکومت ته راغله اود خپل مظلوميت عرض وداد يې کاوه داقصه ډيره اوږده ده زه يې له نورو برخو تېريږم. مګر يوه خبره نشم هېرولی، هغه دا چه قاضی صاحب له بختورې نه پوښتنه وکړه چه مېړه لرې او که نه ؟؟

هغې وويل: نه، کونډه يم ځکه مې خلق سرماتوی.

دبختورې شپږ کلن زوی هلته ولاړ واومورته يې وويل: ولې ادې (لالی) دې مېړه نه دی؟؟

قاضی صاحب خودماشوم خبره وانه وريده ځکه چه دماشومانو شاهدی نه ده قبوله او په همدغه وجه مشران د کشرانو خبرې نه اوری. مګر په ما کښې دومره لو يی نه وه چه دماشوم غږمې غوږ ته ونه رسيږی.

مادماشوم خبره بې څه ونه کڼله ځکه د حقیقت په لټون کښې شوم او د اراته معلومه شوه چه د بختورې دوهم مېړه چه مړ شو نو د هغه تر برونو بختورې ته وویل :

د پښتنو کونډه مېړونه ده .

ته باید له دې ځایه بل ځای ته په خواری او غریبی پسې لاړه نه شې .

هسې نه چه ته له بل قامه کوم مېړه وکړې او مونږ ته سپکه راواړوې .

بختورې وویل : زه هېڅکله بل مېړه نه کوم هرچېرته چه یم کونډه به یم او کنټون به کوم زمازړه له مېړه نه داسې نه دی تور چه بل مېړه ته به زړه ښه کړم .

تاسې ما ازاده پرېږدئ چه خپلو بچیو ته نفقه او جامه پیدا کړم .

تر برونو دا خبره نه منله او پخپله خبره ټینګ وو .

اخره کښې بختورې د هغوی په کورنۍ کښې د لسوورځو په هلك (لالی) غېږ وکړ چه لالی زما مېړه دی . زه به دده په نامه ناسته یم .

تر برونه په دې قانع شوه او پوه شوه چه دا اوس بل مېړه نشی کولی ، ځکه یې ازاده پرېښوده .

وګورئ ! یوه څلوېښت کلنه ښځه هم د لس ورځنی هلك میرمن کیدای شی . هغه کونډه چه یوزوړ بوډا پرې نکاح وتړی جبیره یې په همدې شان کیدای شی چه د لسوورځو هلك قبول کړی او په دغه دول د خپل ټول عمر تلافی وکړی . اوس بختوره پوره ازادی لری او په خواری مزدوری پسې له ننګرهاره کابل ته هم راتلای شی . دیوې میړونې ښځې دپاره دغو مره ازادی چه بې له خپل مېړه او بې دهغه له اجازې لرې لرې ځایونه مسافرت کولی شی ، د عصری ژوند یوه کامله نمونه ده .

په همدغه وجه زه دغې ښځې ته بختوره وایم او په همدغه نامه یې معرفی کوم .

خارجی منبهات په شعور کښې ننوځی او د تأمل تقاضا لری . دغه شی دی چه د یوې سجیې روحیاتی انکشاف تعینوی .

سرکی بوخاروف

ژواك

نوی کال

کال نوی شو حتی کالی هم نوی شول ، ځکه سبز کال اختر او نوروز دواړه غاړه غړی غونډې و یعنی هغه زوړ اختر چه ترهرچا مشر غونډې ښکاری دنوروز په ځوانۍ ونازیده او نوروزهم له همدې بوډا ښخه بې استفادې نه شوپاتی .

خیر کال نوی شوا ودنوی والی الفاظ ښه ډیر ردا وبدل .. هغه وویل د مستۍ وخت دی دې وویل دهر شی ځوانی راغله. بل لا زیاته کړه چه ژمی هم تیرشوا ونوروزیې نعم البدل غونډې خوسره لدې تولو ویناوو..سره له دې ډیرو لفاظیو فکرندی بدل ځکه دفکر بداون دنوروزسره ربطنلری. یاخو که فرضاً دچاخبره په نوروزکښې فکر بد لیدلای نوهغه دفکرخاوندان چه قهرجن ورته عتیقه وایی اود ورین تندی خاوندان زاړه -دوی ته به هم دنوروزونو دغه برکت رسیدلی وای، یا خو به په فکرونو کښې د چا په قول دومره اضد ادنه ایدل کیدای یعنی هر نوروز ته به دزاړه او واړه - پلا راوزوی - قدیم او جدید تولو هوس وای دغه هوس به داتفاوت له منځه وړی وای خو دا کار لکه چه په نوروز نه دی پوره بلکه دغه نوی والی بل عامل لری نخرنګه؟؟ یعنی نوی کال د نوی فکر په پیدا کولو کښې کوم اثر نلری یاخو نوی فکر د زمانی د بو ډی دهروخت نوی زوی نه باله کیږی یاداچه په هر نوروز کښې دزمانې دمور نه میاشتی نه ساعت نه د قیقی او ثانیی نه شی پوره کید لای چه نوی فکروزیږوی . .

او خبره داړول نه ده .

یاداچه ز ماپه خیال همد غه ړول نه ده او دغه قانون نا فذ غونډې نه ښکاری ځکه سره له تکرار شنیع بللوبیا هم وایم چه که داړول وایی نود فکرونو دغه شان اضداد به نه وای موجود او نه به دارتجاع لری کولو دومره زحمت غوښت بلکه هر چا ته به نوی شی خوندور کولای به دې شان چه دنوې یخې خولۍ سره به یې د نوی فکر هغه هم په سر کښې هوس روزلای - مگر داړول نه ده سبز کا او په سبز نوروز کښې ما دیری نوی قره قلۍ ولیدلې - ډیری نوې لونګۍ نوی خولۍ او حتی نوی شیپو ګانی چه پرسروی مگر په دغه سر کښې د پرو سبز شه چه سلو حتی که مبالغه و نه شی نو با ید ووایم چه دزرو ګالو په هغه خوافکرونه موجود وو چه سره له نوروزه او سره له همدې دول نوی هوسه بیاهم دوی هغه وچه و.

کال نوی وفکرزوړ - خولۍ نوی وه خوخیال پخوانۍ شیپو نوی وه مگر قضاوت پر پخوانی اصو لو حتی کلیتاً هغه مخ- هغه پزه- هغه وربز- او هغه چرت

د لته نو باید موږ د همدغه ډول ډیر وزړو خیالاتو، فکرونو سره د کال د نوی والی یا خو د نوروز د راتلو هر کلی په هغه شان سره وکړو چه شاعر یې ستایی او ادیب یې لمانځی؟!

خیر — بله لا هم دا ورید لو وړ ده هغه دا چه موږ باید نوروز ته په کوم نظر وګورو. یعنی نوروز څرنګه نوروز او نوی کال د څرنګه شان او شوکت په اساس؟؟؟

دوی وایی که په همدغو کلونو او همدغو میاشتو یا ورځو کښې د انسان د عادی ژوند په ترڅ کښې یو داډول نوی والی پیدا شی چه تر ډیرو کلونو پوری د سالګری نیولو وړ ایسی - دا ځکه چه انسان هغه عادی انسان وی مګر کارنامه یې خارق العاده.

نو د غه شان ګړی یا ساعت و ترڅ او شپه میاشت او کال ته که سړی په یوه ډول طمطراق قایل شی خوشی به مګر دا چه نوروز همهغه نوروز خو د پزی تور نصوار د شلو کالو د مخه ورسره سونګی — یا خو کال ته نوی وایه مګر فکراً دا نا پر تقلید سرماتوه یا خود پسرلی په تعریف خو له ستړې شوې مګر پسرلی چه د کوم تحول او انقلاب غوښتونګی دی دا فکر په خوا او خاطر کښې مه راګرزوه.

وایه پسرلی راغی — کال نوی شو — نوی کال او پسرلی نوې تقاضالری — او دې نوی خواهش او غوښتنی ته باید منفی ځواب ورنکړشی مګر عملا سوچه پخوانی — بالکل د پلار زوی — د نیکه لمسی — د غور نیکه کړوسی — یعنی نه د زمانی زوی نه ماما — نه تره او نه حتی تربور بلکه د زمانی دښمن - د نوی والی رقیب — د تجدد تربور خو وایه — پسرلی شو - نوروز راغی کال نوی شو او هر څه نوی حتی حساب او کتاب هم باید نوی شی.

داډول اعترافونه پنډ پنډ خو د عمل میدان ده ده حضور ته د څو پسرلیو راهیسی انتظار. په هر حال که موږ پسرلی ته بدبین نه شو نو دومره مفت او وړ یا هم باید خوشبین نه شو او په عادی حال او عادی رنګ کښې او سوځکه ژوی یو د ژواك خاوندان.

پای

مسخ کیده

ښه سړی چه له بدانو سره مل شی
دده فکر د هغوی فکر کښی حل شی
همدغه مسخه کیدل دی په معنی کښې
چه یې خوی د کوم حیوان په خوی بدل شی

«الفت»


ادبی

دغره ونی

دوست شینواری

مونږ د غره ونې یو د لوړو لوړو غرونو په سر
د وچو تړ و او د د نګو ګړنګو نو په سر
د نو ر عالم نه لږ دستور و د نیا ګۍ ته نژ دې
د دې خا و ر ینو ټیټو د ښتو د با مو نو په سر
هلته چه لمر اول زمونږ قدم بوسۍ ته راځی
وروستی وداع یې وی زمونږ ه د ښاخو نو په سر
کله نا کله موسایان چه عرض او نیاز کړی په کښې
د ها غو پا کو مقد سو مقا مو نو په سر
هلته د کا ڼو بوټو مینځ کښې پیدا ویږو خپله
خپله شنې کیږو او لو ئیږو او زړ یږ و خپله

☆ ☆ ☆ ☆

لاندې شرار د آبشار و پاس شرنګهار وی د باد
په سندریزو کهسار و نو کښی زمونږه بنیاد
کله ټپې لا د شپونکی وی د شپیلې په غاړه
چو په چو پیا نغمه نغمه شی د هنګۍ په فریا د
څیړۍ، نختر، منځې، ښوون یو د بل څنګ کښې ولاړ
په مونږ کښې نه شته اعتلاء د کوم یو خیل او نژاد
بې له یو خدایه دلته هیڅوک واک اختیا ر نه لری
زمونږ دنیا زمونږ جهان له هره قیده ازاد
اوړی اوژمی یو په شنو شنو لبا سو نو سنګار
نه له خزانه مهلت غواړو نه خلعت له بهاره

نه‌رانه شپول ددیوال تاونه احتیاج د باغوان
دباغ د ونو په‌شان ژوند نکړو دبل په‌احسان

غرمو ده مورسپینې او به‌لکه‌شوده را کوی
نه‌یو په طمعه دملیار نه‌د ویالې په‌ارمان

په‌وچوتړو ژوند کوو دژوندپه راز پوهیږو
مونږ ته‌بې طمعې ازادژوندی له‌هرژونده‌نه گران

بیخ‌مودغره په‌زړه کښې سرموداسمان په‌غیږ کښې
صبراو لویې حوصلی را کړی‌داسی مکان

څوك چه‌ویساوی په‌خپل ځان او بل ته‌نه‌وی محتاج
وخت‌ورنه نه‌غواړی هیڅکله دښو بدو خراج

سلام سلام ای‌د باغوونو! په تاسو سلام
دبل‌په‌امر او اراده ستاسو اغاز او انجام

ستاسو په خیال به‌مونږ وحشی‌او ځنگلی‌غونډې‌یو
زمونږ په فکرد ژوندون خوازه په‌تاسو حرام

میوه‌د بل، پاڼې د بل دبل‌په‌اور کښې‌سوزیء
هستی،نیستی،مرگ‌اوژوندون موی‌دبل‌په‌مرام

ای‌نا زولیوای‌له‌ژونده نا اشنا ملگرو ؛
څه‌په‌دې ژوندچه‌وی دنورو په‌اسره کښې مدام

څوك چه‌پخپل اختیار ژوند کااو باغوان نلری
په‌تمام عمر کښې‌تازه‌وی اوخزان نلری

درنه‌چاپیره دیوالونه‌د جپلونو په شان
په‌تاسو تنگ‌دخدای دالوی‌اودا پراخه جهان

کله‌خلعت د برگ‌او بار دپسرلی په‌نیاز
کله لغړ او بې حجابه د خزان‌نه لړزان

کله‌له‌وخته خوف،رجا کله ملیارته محتاج
نه‌مو په‌خدای وی‌توکل‌نه‌موڅه ډاډوی په‌ځان

راشیء‌دژوندمقابله‌زمونږ له‌حاله زده کړیء
دوخت دښواوبدوزغم‌دغره دونوپه شان

دغره‌اوسمې‌د ژوندون وی‌دوسته‌دغسې راز
هلته د ځان په ډاډ ژوندن دلته د بل په نیاز

لیکونکی: روبرت

مترجم تبزی.

د پسرلی نهر

د دې پارچې لیکونکی غربی لیکوال روبرت دی چه ښاغلی تبزی په نظم ترجمه کړی دی

یوه شپه چو په چو پیاوه په جهان کښې
رانه ستوری ځلیدله په اسمان کښې

یو ماشوم «نهر» له خوبه را بیدار شه
له لمنې د درې نه په رفتار شه

په ټوپکو او مستۍ باندې روان و
پروا گیر نه د خپل ځان نه د جهان و

باك یې نه کړو پرې ورتلو به برابر
که وهسك د دې درې او که ژور

وې شاوخواد «گلو پیغلې» دریدلې
په حیرت یې د ده خواو ته کتلې

هر یوې به خپلې خواو ته باله
څو یو درنگ ورسره وکوی خواله

یوې کړې ورته نخرې بلې خندل
په زارۍ زارۍ یې داورته ویل:

«راځه مه کوه ته یون هسې مدام
لبز څه وکوه په غیبز کښې مې ارام»

وې چاپیرې ځنې مخه یې نیوله
هرې خوانه به یې لار پرې بندوله

خوداشوخ ماشوم هرگز نه دریده
اخستله به یې مچه تیریده

په ټوپونو او غور ځنگ ووتی سم
له درې یې پر بید یا کیښو د قدم

خوله یې ډکه له ځگووه غړمبیده
د حال ژبه باندې هسې غبزیده:

«اې پراخولو یو د ښتو او میرو
د اسمان ښکلیو ځلاندو کنارو»

«اې بې پایه ډیرې ارتې دنیا
زه د استایمه او ته یې مال زما»

«زه ښاغلی او باتوریم د جهان
د نړۍ پرمخکښې زه یم قهرمان»

«پریبزدیء پریبزدیء څو جهان ته کړم ښکاره
خپل لوی والی چه یې وکړیء ننداره»

«ښایی ونه کړمه ټیك زه یو ساعت
پیدا نه یمه د پاره د راحت»

«بوډا مورمې له لوړ ځایه راته گوری
وایی: پریبزده چه دی څه کړی څه رنگ ښوری»

«باید وکړمه زه داسې یو ستر کار
چه هغه ور باندې وکړی افتخار»

«راته راکړی تحسینونه، اپرین
نه چه ووایی: لعنت پر تا ننگین»

وروان په پاخه عزم او غیرت — په هر گام یې زیاتیده توان او قدرت
وڅپانده په مستۍ او غورهار — څو یې ځان کړ د سیند غیبزې ته غوځار

☆ ☆ ☆

دلته لا پسې ځان وینی په قوت — له خپل ځان سره غور یبزی په هیبت
«باید پریبز دم پرنړۍ ځان نه یادگار — نوم څرگند کړمه په مخکښې دروزگار»
«و به نه کړمه هغو پورې ارام — څو چه نه کړمه تر سره خپل مرام»
«دقیقه که شم ارام یا په سکون — هم هغه شیبه مې پای دی د ژوندون»
«شپه او ورځ کړم عوارضو سره جنگ — اسوده په راحت نه یمه یو درنگ»
«وړم درنې لویې بیړۍ یو ځای بل ځای — څوك مې مخې وته نه شی دریدای»
«په همه و وحواد ثوزور اوریم — خواهشات مې دی بې شماره ډیرزړ وریم»
«په هر گام کښې مې قدرت او توان زیاتیبزې — اوس لوی سیند — لومړی وم نهر زما یادیبزی»
«گڼ ځنگلونه به مې غاړې ته پیدا شی — ښه ښار ونه به مې خوا سر بنا شی»
«ډیر مخلوق به مې ساحه کښې روزل کیبزی — لویې دښتې به مې خوا کښې زر غونیبزی»
«له هر ځایه او له هر څه نه تیر یبزی — څو چه غاړې ته د بحر ور رسیبزی»
دلته وینی دی بل رنگ بله دنیا — بل شان نور بله صحنه بله هوا»
دا مغرور زلمی په سترگو د حیرت — شی ناظر د دې جلال او عظمت

ځان ور اچوی په غیبز کښې په تلوار
د دې مشر پرتمین او بزرگوار

تازگی

یو څو ورځې وی بهار د سرو گلونو — لنډ وی عمر، ښایست د ښو مخونو
تازگی د شعر هم داسې تیر یبزی — ژرځی خوند د ابتکار له مضمونونو

(الفت)

ع، قتیل خوږیانی

پسرلی شو

پسرلی راغی معطره شوه هوا بدله
خود بلبل له خوا ئې نه اورمه غوغا بدله

☆ ☆ ☆

دژوند دوره ده بیا گلان راژوندی شوی که نه
رنگ، رنگ گلونو رنگینه کړله صحرا بدله

☆ ☆ ☆

درتل شو وزمول شو وتسلا لپاره
د کال ځوانی کړه په کرم خپل هره خوا بدله

☆ ☆ ☆

هغه اغاز چه په انجام کښې وله منځه تللی
بیا نتیجه کړه پسرلی په ابتدا بدله

☆ ☆ ☆

پوهیږې دغه تحول راځی دڅه لپاره؟
ددې لپاره چه د ژوند کاندی دنیا بدله

☆ ☆ ☆

حال بدلول په پسرلی کښې له گلانو زده کړه
دا زړه لاره دې په نوی کړه اشنا بدله

☆ ☆ ☆

د ژوندون فصل کښې د کار ښکلی گلان وکره
باغوانه سوال دې د گلشن کړه تماشا بدله

☆ ☆ ☆

نوې دوره کښې ارزو گانې نوی نوی ښایی
له زړې تېر شه اشنا ښایی التجا بدله

☆ ☆ ☆

په دې ماضی ژوند کښې خو مایو ذره خیر، ونه لید
ځکه «قتیل» کوی له تا نه تمنا بدله

رنگ خوږ یا نهی

پسرلی شو

دطبیعت دفترمنلی شوه دنیا بدله
هوا بدله نسیم بل، شوله صحرا بدله
لبزمخکښی دلته لړزبدل اوژړبدل لیده شوه
اوس مسیدل اوهسکیدل ښکاری لیلا بدله
دسروغنچوسرونه کښته تخنیدلی غوندې
انتها ختمه شوه شرگنده ابتدا بدله
نوې څپې دزړو، زړونوبیدا ری دپاره
داچه بلبل کړلې ناري او چغید ابدله

راځی راځی په هر څه نوی، نوی وار دغسې
خاتو له ښه شوه چه خولی شوه زړه ستا بدله
تا به لیده چه به اغزو دگلو ځای نیولو
بیا دسرو گلوژړا ښکاری په موسکا بدله
په بدلیدو او او ښتو کښې نن سبا لیده شی
نن به داوینی خو سباشی تماشا بدله
«رنگ» وخواوس بې د قدرت مظاهرې جوړېږې
قیام به وی خو به قیام کښې اقتدا بدله

*

محمد عثمان نژند

د پسرلی کیف

رنګ د آسمان بدل ښکار یږ نی شوه دنیا بدله
د طبیعت ناوکی خاندی شوه صحرا بدله

☆ ☆ ☆

لاړهغه وخت چه به بلبل پکښې خاموش ګرځیده
د ګل په بوی باندې خو شبو یه شوه فضا بدله

☆ ☆ ☆

زرکو ته بیا د کټیدا هوس په سر کښې شولو
جوش د پسرلی دی ځکه بیا شو له سودا بدله

☆ ☆ ☆

د جنت حورو ته به میل د تماشا پیدا شی
چه تماشا کښې تماشه کړی محبو بابدله

☆ ☆ ☆

هرڅه بدل شوه دفطرت د اقتضاء په قانون
ساقی د کیف په خاطر پورته کړه مینا بدله

☆ ☆ ☆

«نژنده» فکر به دې ښه شی زیاتی غم مه کوه
په غرورغو اوباغوبن کښې شوه ښکلا بدله

اسلام الدین « هنر یار »

پسرلی

چه‌طبیعت ته‌ره منظوره شوه دنیا بدله
نظر کښې ښکاری به‌ښکـلا ماته‌صحرا بدله

☆ ☆ ☆

ښکاری رغونه غرونه واړه له نباتونه ډک
د بلبلانو شور غـوغـا شوه په خندا بدله

☆ ☆ ☆

بهاره ستړی مه‌شې کیده په لیـومې قدم
د زمانې جفا ښکاریـږی په وفـا بدله

☆ ☆ ☆

په دې موسم کښې خوشالی او مسرور تیاده پکار
خوشالی ښائی نه چه بیاشی په ژړا بدله

☆ ☆ ☆

خوند کوی هلته چه گلونه سرې غوټې ولری
چه‌په گلونو سرتر پایه شی بیدیا بدله

☆ ☆ ☆

دغه شنه‌ډکی چه صحرا کښې راوچت شوه کنه؟
د پسرلی ښه منظره ده چه شوه بیابدله

☆ ☆ ☆

دژوند موسم دی (هنریاره) دژوندون لپاره
په کسب و کار دزندگی کړه هره‌خوابدله

☆ ☆ ☆

م(متین) خوږیانی

پسرلی شو

د طبیعت دفتر منلی شوه دنیا بدله
مړاوی آرزو شوه بیرته بیا په التجا بدله

بلبل ده یرې مودې وږی ننداره کړی د گل
ده هر گلشن کښې د یارانو ناز ادا بدله
پیغلو پییلی ور بلونو کښې غنچې د گلو
ساقی د میو جام په لاس کوی خندا بدله
د ترانو آواز بدل شو وخت بدل ښکاریږی
دې نوی تال ته غزل نوې ده نڅا بدله
هغه سپېره بیدیا چه باد به په کښې زیست کولو
اوس پسرلی شو په غا ټول شوله صحرا بدله
د بز گرانو د زحمت ونې میوه پیدا کړه
ایله چه هغه تمنا شوه په رضا بدله
د ژور فکر خاوندانو ته روڼ ستوری بریښی
همدغه پټه چه په پټه شوه معما بدله
دغه کاروان چه په تلوار تلوار مزلو نه کوی
و ږمو راوړی ار مغان کړی تماشا بدله
چه پارول به یې پرهارونه ملهم نه بودېده
ډیر ښه شو ښه دی طبیب نوی شوه دوا بدله
عجیبه زیب کړی دا تابلو څه ښه د کار موسم دی
د کار لائق شه ای (متینه) کړه سودا بدله

م (قوی) خوږ یانی

پسرلی شو

د طبیعت دفتر منلی شوه د نیا بدله
پسرلی راغی معطره شوه هوا بدله
دغم درنې بوستنې هرچا کړې له سر نه گذار
ښکلی ښکارېږی بڼه بیا شوه د هرچا بدله
په سم اوغره کښې پورته کړی بوټو بیا سرونه
وچوی سترگی بلبل خوش شو، شوه فضا بدله
مطرب په بیله نغمه سر دی د نغمو په لاره
هر شی دغم ډکه ژړا کړه په خندا بدله
د کائناتو لوی اختر دی خوشالۍ پیدا شوه
دا ناآشنا مینه هر چا کړه په اشنا بدله
د ارزو گانو وینه نوی په د دران راغلې
د خزان توره تیاره هم شوه په رڼا بدله
د ژوندانه سمون لپاره کاروبار شروع شو
وایی (قوی) د ظلمت شپه شوه په سبا بدله

(فقید) خوږ یا نی

پسر لی شو

د طبیعت د فتر منلې شوه د نیا بد له
د کا ئنا تو په بد لون کښې شوه رڼا بد له

ګلګون ښکار ېږی د نړۍ مخ، تحول پیدا شو
و ږمې چلېږ ی هره خوا کښې ده فضا بد له

هر څه راوېښ شوه غوټۍ ګل شوې شادابی راغلې
ځمکې زرین کا لی اغوستی شوه بید یا بد له

زړه لړ زوی بیا د شپو نکیو د شپېلیو آوا ز
ز مزمې نوې ا ر ز و بله تما شا بد له

بورا ګان ګل ته په ګډا ځی نڅا ګا نې کو ی
د و ر ې وهی نصیب شو و صل شوه نڅا بد له

نسیم راوړی ورته زېری ځکه ښکاری ا ختر
سپېر ه ر غونه شو ه سمسوره هره خوا بد له

زړونه ګو ګل کښې نه ځائېږی په مستۍ راغلی
چه په ر ګو کښی ز ړ ه وینه شوه ر ښتیا بد له

(فقیده)! راغی بیا د وران دبیدا رۍ ، دنیا ته
سرود غږ ېږ ی زړه تخنیږی شوه هوا بدله

غلام محی الدین زر مل وال

بیدیا جوړوی

طبیعت بیا راویښ شو
بڼ په سودا راویښ شو
ګل په دوا ر ا ویښ شو
ور ځې خورې شوې خدایږو بیا ګڼه اوریا جوړوی
بله فضا جو ړ و ی

☆ ☆ ☆

تالنده و ریځ اوبر یښنا
او رښت په سمه صحرا
ز مان موسوم ، په سلا
په خوب کښې تللې دا زړه وچه صحرا جو ړ و ی
نو ی د نیا جو ړ و ی

☆ ☆ ☆

مځکې ته نم و ر کو ی
ر یښی ته د م و ر کو ی
ګل ته شبنم و ر کو ی
بهوی او ښکې زمو نږ خزان باغ اوبیدیا جوړوی
نو ی ر نا جو ړ و ی

☆ ☆ ☆

دښته کښې ګل جوړوی
بڼ کښې سنبل جوړوی
راغه کښې بل جوړوی
طبیعت مخ په تکامل وچه بیدیا جوړوی
بڼ د صحرا جوړوی

☆ ☆ ☆

شنه زرغونه شوه بیدیا
ګل رنګینه شوه صحرا
حکمت کړی باد د صبا
ګل غوټۍ موسکه شوه اختر د غوړیدا جوړوی
ګل تماشا جوړوی

☆ ☆ ☆

لمر پلوشې غوړوی
سپوږمۍ شغلې ویړوی
سهار وږمې خپروی
د پسرلی مور ټوله شپه ګل شبنم بیا جوړوی
نوی ښکلا جوړوی

☆ ☆ ☆

یوم په اوږه بزګر کړی
کرکرونده بزګر کړی
سخته قلبه بزګر کړی
پسرلی ماته عبرت درس ژوند د سیا جوړوی
بله دنیا جوړوی

☆ ☆ ☆

بز ګرتل ز یار به وس کړی
مزدور ډوډی هوس کړی
کار ته ول په وزی نس کړی
دپسرلی نظام ژر ژر ژوند د هر چا جوړ وی
ستا هم ز ما جوړ وی

☆ ☆ ☆

نن پسرلی اختر دی
بز ګر شپانه اختر دی
هم وری سپرلی اختر دی
فصل او صحرا کښې زموږ بز ګر شپانه ستړ یا جوړ وی
ژوند دبها جوړ وی

☆ ☆ ☆

ای پوه زلمیه راشه
د نوی ژوند د واشه
دې خزان باغ ته ساه شه
فطرت خا ته ول پاس په کمره کښې په خندا جوړ وی
بن په بید یا جوړ وی

☆ ☆ ☆

شه طبیعت په سلا
دې ویجاړ ژوند ته د وا
د تورې شپې رون سبا
ور ان ویجاړ کور د جامعې معمار صفا جوړ وی
د هر هر چا جوړ وی

☆ ☆ ☆

سیداحسان الله «هېر»

پسرلی شو

په باغونو کښې جوړ شور شو — په گلو ښکلی هرلور شو
د یخنۍ قافله لاړه — ځوان اوزوړ بهرله کور شو
بیا اختر شو په هرتن ښکلی کالی دی
شین لباس بو ټوا غوستی پسرلی دی
ونوغاړو کښې ها رونه — هر رنگ ښکلی امیلونه
غراوسمه بیا شول ښکلی — هره خو اښکاری گلونه
دانړۍ بیا طبیعت نن په رنگونو نقاشی کړه
رنگینه تابلو نن جوړه له نړۍ نه پسرلی کړه
دباغونو واکداری بیا — چمنو نو باداری بیا
ما لیارور کړله بلبل ته — نغمې واتی سهاری بیا
هر سهار په باغ کښې جوړی دبلبلو ترانې وی
خوشحالی وی مسرت وی دوفا ژوند افسانې وی
په ودانه وو یرانه کښې — ددی ښه وخت زمانه کښې
یو ښائسته گل ټوکېدلی — بلبل ستایی ترانه کښې
مگرلری له نظره په صحرا کی ښایسته گل دی
نه په یادد ښایسته پیغلو زښته هېرله هر بلبل دی
ښایستو کښې مخ یې سور شو — له خپگانه زرر نځور شو
پسرلی نه گله من شو . — حواد ثو ته ترور شو
شو خپه چه قدر نه شوولی هېرشو له هر چا نه
په ځوانۍ کښې ځوانی مرگ شو لاړو ـ لاړو له دنیانه
ما یوسی بو تلو عدم ته — له خوښۍ نه لاړو غم ته
حوصله و رسره نه وه — وصل نه شو خپل صنم ته
څو ښا یسته پېغلی را تللې تما شا و ته د گلو
کوچنی گل و ځان ورك کړی ور نه غی تر اور بلو

اوریخو جګه بیا خپمه کړه پنډه شپون ورته رمه کړه
په شین سوری او بوخوا کښې شپونکې تېره سره غرمه کړه
تکلف نښی چه نشته څه عجیب یوخو ز حیات دی
قناعت شپون ته حاصل دی سوړ جواری ورته نبات دی

ښایسته زر کښې شته غرو کښې هم بازان شته دی درو کښې
دې کهسار کښې هر څه شته دی شته شنې و نې غرو سرو کښې
څومره ښه شو خدایه ښه شو چه ساړه لاړل جهانه
پسرلی شو خو شحالی شوه بیا شو لرې له خزان نه

دا بهار دې همیشه وی سره ګلونه دې تازه وی
د بلبل هیله پوره شوه ارزو ګانې دې پوره وی
خوشحالی دې هره خواوې نه دې وی ډیر خپګانونه
له خلوته لبز څه لرې لاس ترلاس دې وی سیلونه

پا څه - پا څه اې ما لیاره رنګارنګ ګلو واکداره
«هیر» دې نه شی ګلان روزه ډیرې ستر ګې دې په لاره
دا ګلان چه ته یې روزی انتظار ورته بلبل دی
د بلبل دزړګی سر دی سور ګلاب او که سنبل دی

محمد یونس خالص

مزې

توري نرۍ وروځې، شونډې سرې مزه کوی هسکه نرۍ غاړه د لیلې مزه کوی
تور پیکی په سپین جبین عجب لری خوندونه سپینې غونډې زنې یې وژلی عالمونه
تاوتر ګلا پی مخ یې د زلفو دی تارونه ویې پییل بڼو کښې دعشاقو ینې زړونه
لك بوچی آنار یې د سپنې مزه کوی هسکه نرۍ غاړه د لیلې مزه کوی

☆ ☆ ☆

ډکې له حیا او که پخپله حیاسترګې دی سترګې په دنیا کښې خو همدا داشناسترګې دی
ټیټی یې ترمخه دنرګسو شهلا سترګې دی ښکلې دی، ښکلاده، نه، رښتیا دښکلاسترګې دی
سترګو! داسې سترګو ته اسرې مزه کوی هسکه نرۍ غاړه د لیلې مزه کوی

☆ ☆ ☆

پټه خو بولې وی رښتیا چه د دلبر سترګه ځکه پلوشې کوی سهار کښې دسهر سترګه
شرم او حیانه لری بېبا که ده دلمر سترګه مخ ترې پټوی ځکه دښکلو دزړه سرسترګه
سترګې په خندا خندا د دې مزه کوی هسکه نرۍ غاړه د لیلې مزه کوی

☆ ☆ ☆

نه منی خالص چېری دښکلو جفا نه منی عیب ګڼی جفا ځکه جفا د اشنا نه منی
روح چه دمجنون نه وی دغسې لیلا نه منی هیڅکله مین له معشوقې نه جلا نه منی
ځکه یې د مینی و لولې مزه کوی
هسکه نرۍ غاړه د لیلې مزه کوی

زیار

دلیمو پرخه

انګار د مینې څڅو لې یم زه
لمبو د هجر ایشولې یم زه
د ځمکې مخ نیسم دیار په لټون
د زړه له کوره راوتلې یم زه
روغ پسرلی کښې دخزان پرخه یم
د ګل پرځای په خار لویدلې یم زه
ارزمه نه په یوا شنا التفات
د رقیب پښو کښې غور ځېدلې یم زه
دراز ویلو د ګناه په سزا
یمه نتلې چېرې تللې یم زه
رڼه ځلا نده مې دې نه بولی څوک
دتومت خم کښې رنګېدلې یم زه
بې د ژړا نه بل تعبیر نه لرم
د زړه په نول که خند ېدلې یم زه
پر ېږده چه څاڅمه لیمونه د «زیار»
چه له خوږمن زړګی راغلې یم زه

س،شپون

شکسپیر

(۱۵۶۴-۱۶۱۶)

دمنځنۍ پیړیو په اخرو کښې ووچه انسان په منفرد صورت سره میدان ته راو وځی ، او دهر سړی ژوند په مځکی ښکاره شی او داوهامو له دوړو دعادی ژوند رانه ډګرا وورسره د لیکو نکی دپاملرنې سیمې ته راووځی او له دې وروسته ډراماهم د همدې خلکو د ژوند ښکارونه په ازاداولوڅ ډول کوی .

که مارلو د تخیل پلارو ګڼونو د دې تخیل راښکته کو نکی اوپه عادی ژوند کښې راوستونکی به یې ضرور شکسپیر وی . شکسپیر نه یواځې دانګلیسی ترټولو غوره ډرامه لیکو نکی دی بلکه لومړنی ډرامه لیکو نکی دی چه خپل اثاریې د بشر څخه را و اخستل یعنې بشریې دخپلو لیکنو مواد وټاکه . .

دا کار شکسپیر په لومړی وخت کښې نه کاوه اودده په لومړیو ډرامولکه (دویم هنری) کښې د مارلو اغېزه ګو روخو ډیرژر دمارلو له میدانه خپلې پراخې او مخصوصی سیمې ته راووت .

دشکسپیر په (جان پاچا) کښې غنایې-ویاړنی هجائې اوعاطفه وی احساسات ټول یوځای لیدل کیږی. ده خپله خندنۍ برخه دګرین او کلی لی داثارو څخه زده کړه اوهم یې له دوی څخه دشهزاده ګانو تخیلات اونورزده کړل چه وروسته دده د اثارو په زړه پورې ګانه شوه دا اثر دده په (دویم ریچارډ) کښې لیدل کیږی اوهمدا سې د دې ښکلا او ګلالی توب په وروستیو ډرامولکه (دوینس سوداګران) او (داهاړ دیوې شپې خوب) اودده په غوره تراژدی (رومیو اوجولیت) کښې لیدل کیږی .

ددې کلو په اثارو کښې هماغه مستقیم قافیه داره شعر استعمال شوی چه وروسته شکسپیر دڅو کلو دپاره ورڅخه لاس واخیست .دایطالې رنسانس په دا لاندې صحنه کښې لیدل کیږی ناویلا دجنوبی خواوودښار ژوندتر سیموی چه په هغې کښې قانون-محکمې او مطلقه پاچائی ښکاری .ددې اثر خلك په اوله کښې تت شانته ښکاری اوپه وروستیو پرد و کښې روښانه او وپیژندل شی-دویم ریچارډ-شایلاك(چه دیوه سو دخور دمحاکمې قصه ده)- بواشیا اوژولیت په همدغه ترڅ کښې راځی .

ناویلا مځکه پرې ایښی اووزرونه یې ایستلی اوروح یې دګلالیو خیالواو ځوانۍ په اسمان کښې الوزی .په خپله په شعر کښې یې هم یو تخیلی عنصر پروت دی دا عنصر لکه دښا پیریو قصی ګلالۍ اولکه خوب دا سې بریښی .

د ۱۵۹۷ع څخه تر ۹۹ پورې شکسپیر ویرجن‌اثرنلری اویوازې یې خندنۍ ډرامې جوړولې .په‌دې وخت کښې ده خپلو وروسته لویولیکنو ته‌تیاری نیوله.د(پنځم هنری) اثر دومره ډرامه‌ندی هغومره‌چه‌یوه‌دښودنې‌چنبه لری.چه‌ښې‌خطابې اوپه‌زړه‌پورې اشعارلری اودلیکونکی د وطن پالنې حسن ترې ښکاری .

په‌دې‌وخت کښې دانګلستان هنری اختراع خپل‌ځلی ته رسیدلې وه په همدې ترڅ کښې دشکسپیر لیکنې‌هم د وطنی جنګیالیو او اتلانوپه ګرچاپیره ګرځی .

داجنګیالی‌دده‌داثردمخې‌په‌ډیرې‌سرلوړی جنګیبزی اوپه‌لوړودربارو کښې‌به سرلوړی وژل کیبزی. دده په خندنی‌اثارو لکه «ستاپه خوښه»-«ډیرې‌خبرې دهیڅ شی دپاره» او «دولسمه‌شپه» کښې‌داوطنی جنګیالی‌به خپلو دربارو کښې ښئی‌اوښځې‌د درامې موضوع‌دی شکسپیردښځو دغبزیدا دپاره غوره الفاظ انتخابوی .

که لوکریشس استثناء وګڼونو بشر غیر دشکسپیر په اثاروکښې هیڅکله‌به دومره تندی‌ندی پلټول‌شوی او دومره سخته نه ده برې راغلی او نه دومره دغم څخه وروسته ډاډګېرنه‌ور ګرشوې ده- زموږ تخمین دهغه فکرپه حکله‌چه‌داواقعې یې‌به‌دومره ژوندی والی‌راایستلی‌دی یوناقص‌شی دی.خود ادب څېړونکی‌بایدپوه‌شی چه‌د شکسپیر اثار هم لکه‌دنوروشاعرانو پشان دخپل‌محیط سره کلك اړیکی لری .

دجمیزدپاچائی لومړنی څو کلونه‌د دسیسی اوتوطیئې ،دمرموزوخلکو،اودتیارو واقعووخت وو.په‌همدې‌لسو کالو کښې‌دجانسن- چاپ مین او تورنیور مهمې ویرجنې ډرامې‌ا ولیکنې شوی‌دی-سپین‌شیطان-دیارك‌شایرویر-دنجلۍ انګیلا-هغه‌ښځه‌چه‌په‌مهربانی‌وژله‌شوه اونور په همدې لسو کلو کښې کښل‌شوی‌دی. خو که شکسپیرد خپل عصر هیند اره وبولو اودنورو ډرامه لیکونکو تر اغېزې لاندې یې وګڼو بیا هم‌دده (هملټ) (مکبټ) (لیر) او(اوتیلو) بیخی دده دعصراو دهر یو ښل عصر څخه جلا یو ادب دی .

په‌دې ډرامو کښې دویر جنتوب یوه نوې فلسفه -یونوی‌شعری‌لیك د ډرامې یو نوی تخنیك ښکاره‌دی .شکسپیر په یوه شی کښې‌له‌خپلوهمز ولو میدان ګټلی دی . هغه دا چه دی نه یوا ځې د قدیمی پهلوانانو انصاف - سرلوړی ژوند او د افتخاره ډك مرګ‌ښئی

ځکه داکار دده د عصر نورلیکونکی هم کوی بلکه دوخت تیریدل هم ورسره په پوره روڼوالی‌ښکاروی.او دده‌په ویرجنو

د رامو کښې یو راز اقتدار لویږی او بل را او چتیږی. یعنې خپل اثر نه دشاعر په تخیل چه په زمان ایثار نه وی ؛ لکه خوب چه زمان نه پیژنی) بلکه د وخت سره یې ښوروی او عادتو ته دوخت په تیریدو بدلون ورکوی. دشکسپیر هملټ دمو نټیلن دمقالو څخه چه په ۱۶۰۳ع کښې ترجمه شوی متاثر شوی.

سو نتس چه په ۱۶۰۹ع کښې چاپ شوی د ښکلا- حقایقو- ښو او بد ولټون کوی او ځینې خلك لاګر وه لری چه دااثر دده خپل سوانح او اعتراف دی.

دشکسپیر آخره مرحله چه. ویر جنې او خند نۍ ډرامې لری په ۱۶۰۸ع کښې پیل کیږی. په همدې کلو کښې پرسیلز او د تایرز شهزاده، لیکل شوی دی. څوك نه پوهیږی چه ولی ده په آخروو ختو کښې عموما دخپلو ویر جنو ډرامو آخر ته خند نی رنګ ورکاوه. پرسیلز لومړی په توطئو- جنایتو او ویر پیل کیږی او په آخره کښې یوه ښه منظره چه خند نۍ او په زړه پورې ده ترې راووځی.

شکسپیر درې ملکې لری چه د ده دا ثر غوره والی د همدو درو ملکو په غوره والی کښې پروت دی. داظهار او جمله بندۍ ملکه- دبشر شخصیت او اعمالو جوړونه او هغه په فعالیت کښې ښودل - او دریمه یې تیاتری یا صحنوی مهارت دی.

ددانټ اثار به موږ ته تر شکسپیره ښه مکمل او پاخه ښکاره شی او په رښتیا هم شکسپیر خپلې لیکنې په دومره اړو لورا اړولو دژبې په نرمولو او ګلکو لو او زړو او ښودلی چه د ده حقیقی سبك په ډیر لږ ځای کښې او دده شخصی خبرې ډیرې لږې ښودلې شوی دی. خو که سړی ځیر شی ګوری به چه د انته یوائې خپل فکر او احساسات وایه او د خپلو احساساتو ښودل د یوه لیکونکی د پاره تر ټولو اسانه کار دی.

دلیکونکی اصلی قوت او جوهر هغه وخت ښکاریدی شی چه دې دبل جنس- دبل انسان دبل ژوی احساسات او حالات داسې ښکاره کړی چه د لوستونکو خیال وی چه پخپله لیکونکی له هغه ډلې څخه دی شکسپیر د سل ها و خلکو (چه په ډرامې کښې یې راوستل) افکار خصوصی احساسات او خبرې ښکاره کړی دی. له بلې خوا که شکسپیر د بالزاك سره مقایسه کړو ګورو چه بالزاك تر شکسپیر لاد ډیرو خلکو حالات او ژبې ترسیم او اظهار کړی دی خو ددوی د کلام څخه بیا پوهیږو چه بالزاك شاعرانه تخیل نه لاره. حال داچه شکسپیر الفاظ هم لکه موم په هره بڼه چه یې غوښتل اړول.

دده اشعار ساده او صمیمی او جمله بندی بې کلکی دی او دیوه مبتکر او قوی لیکوال نمایندگی کوی. دده محبوبیت او صمیمیت په ښه توګه د ده په سوتنس کښې چه خلك ورته د ده اعتراف هم وایې لیدل کیږی. خو ده نه یوازې خپل حالات بلکه د کلیو پاتر ا احساسات هم په هغه مهارت تر سیمولی شوه. ده لکه جانسن خپل هنر ته (چه علمی ډرامالیکل دی) په درنه ستر ګه کتل نه لکه چاپ مین چه ځینې ډرامې یې دلو بو لووړاو ځینې یې نه دی. دشکسپیر استادی هر ملك (که پنګه لر ونکی وی که اشترا کی) منی. نه یوازې یې دډر امو آسا ن والی بلکه عظمت ـ او په زړه پورې والی یې هم د هر لیدونکی خوښ دی. دی د کتونکو په هر حس اغېز ه کوی.

دده په اشعار وکښې په ر نه تو ګه دیهودو نفر ت ـ د فرانسې او د پاپ نفرت او دښمنی او دملکی اوملی وحدت ستا ینه لید له کیږی. شکسپیر یو حقیقی ډ رامه لیکو نکی هنرمن دی. دی په درو کر ښو کښې موږ ته دا حس را کولی شی چه دصحنې کوم سړی دی په موږ ګر ان وی او کوم مو بد و ایسی کو م خلك دتر حم وړاو کوم د احترام لایق او کوم بې اهمیته دی. همدغه کار دده نبوغ دی. په عین حال کښې دده بشر دوستی او د ښو عا د ا تو ستاینه دی دد ر امه لیکنې د با چا ئی په تخت کښینوی.

قدرت الله حداد

تاریخي

کابل د تاریخي څېړنو په رڼا کښې

د کابل ښار چه د افغانستان پایتخت دی نن د افغاني نړۍ ډېری هیلی په کښې روزل کېږی او د پښتو نخوا د تکلو نو لوی تاټوبی دی. دا مجله هم د دغه ښار په نامه خپریږی.

نو دا دی چه موږ دغه ښار د تاریخي څېړنو په رڼا کښې ګورو. په کار دی چه د خپلې مقالې په سر کښې خپل مأخذ هم وښیم چه که چېری د چا تنده نه ماتېده نو هغه دې اصلي مأخذو ته مراجعه وکړی د کابل په باب ډېرې خبرې شوی مګر چه راټول شوی هغه مطالب ـ ښاغلو پوهانو، کهزاد حافظ نور محمد او میر غلام محمد غبار لیکلی د ۱۳۳۳ کال د عرفان په مجلو کښې د ښاغلی «پارسا» د لیسانسې د دورې مونوګراف خپور شوی چه هغه هم (د کابل لرغونی ښار) تر عنوان لاندې دی او ښایسته ډېر مطالب لری، خو د کهزاد صاحب (د کابل بالاحصار او د هغه واقعات) کتاب کښې غوره مطالب راغلی دی بیا د ښاغلی حافظ نور محمد (د کابل تاریخ ته یو نظر) په لیکنې کښې عالمانه څېړنه شوې ده او د لته یو ازې لرغونی تاریخ د معظم ټولواک تیمور شاه درانی تر مهال پورې (۱۱۹۰ھ ۱۷۷۶م) بیانیږی، تر هغه وروسته چه معاصره دوره ده ټولو ته څرګنده ده او په (معاصر افغانستان) (افغانستان په نولسمې پېړۍ کښې) او (د بالاحصار واقعاتو کښې) ښه رڼا پرې اچولې شوې ده.

په دې کښې څه شک نشته چه اقتصادي عوامل هغه مهم عوامل دی چه د نړۍ پر ټولو، سیاسي، مذهبي، اجتماعي او فکري تحولاتو باندې ډېره اغېزه لري له دې نه هم خبره تېره ده پر ادبیات، هنر او اخلاق هم اثر لري او د اقتصادي ژوندیو مهم ټوک تجارت دی چه د کاروانو له تلو راتلو سره یوازې شیان او مالونه ـ نه وړل راوړل کیدل بلکه دغو کاروانو سره خیالونه، افکار، اخلاق هم تله او راتله، د وی به له ځانه سره مفصل اخبارونه خپرول چه په پای کښې غوره ودانۍ او د تولید غوره سامان په ځینو مرکزو کښې پیدا شول او دو ګړو له پاره د ژوندانه وسایل برابر شول. د مدني ژوندیو نوونکی (محرک) تر ډېره حده همدغه عامل دی.

کله چه سمندري لارې نه وې نو د اروپا او اسیا تجارت د افغانستان له لارو کېده.

همدا وجه وه چه زموږ په هېواد کښې لوی تجارتي مرکزونه جوړ شول. کابل هم دغسې یو تجارتي مرکز و، چه د هندوستان، چین مالونه به له دې لارې لوېدیځ خواته تلل او له هغه ځایه نور شیان دې خواته تیریدل

په ویدا (Vedas) کښې کابل ته (کبها) ویل شوی.
بطلیموس اوسترابون هغه د (کابورا)
او (ارتوسپانا) په نامه یاده وی. هیرودت
(۴۸۴ - ۴۰۶ پ م) د کابل تجارتی
مالو خرڅلا په یونان او روم کښې
لیکی دغو کسانو ټولو کابل یو تجارتی ښار بللی
چه د یونان، روم او پارس سوداګر له لویدیځ،
دهند او چین سوداګر به له ختیځ څخه کابل ته
راتلل او خپل مالونه به یې سره مبادله کول.
ویل کېږی چه کابورا د تجارت مرکز ته وایی
او دا کلمه هم سندی ده.

ظهیرالدین بابر په خپل تزک کښې لیکی:
د خراسان، روم، بابل چین او ټولو مالونه او شیان
په کابل کښې میندل کېږی او دهغه کالنی مالیات
اته لکه شاهرخی کېږی چه هره شاهرخی یو مثقال
سپین زر دی. په ۳۲۸ پ م کښې لوی سکندر له
هندو کش څخه تیر شو او کابل ته راغی او له دې ځایه
د خیبر په لار هند ته وخوځید د چکړی او سنجتک
څلی ده در ولی دی (اوس هم ولاړ دی)
وروسته تر سکندر په ۳۲۳ پ م کښې سلوکوس نیکاتور
یونانی سردار چه اصلی نوم یې سکندر دی کابل او
د افغانستان نورې سیمې د ځان په برخه کښې ونیولې
په ۳۰۵ پ م کښې د کابل سیمه (چندراګوپتا) د موریا
پاچا ونیوله او ټول افغانستان د سلوکوس
له لاسه ووت. د چندراګوپتا د لمسی (مهاراجه اشوک)
له ۲۷۳ څخه تر ۲۳۲ پورې پر هندوستان، بلوچستان
او افغانستان حکومت کاوه - د رآشوک)
تر مړینې وروسته د موریا کورنۍ له پښو وغورځېده
په ۲۵۰ پ م کښې د یونان او باختر ګډ حکومت
جوړ شو څرنګه چه د دغه وخت سکو کښې
آریائی او یونانی لیکلی شوی.

ښاغلی غبار لیکی: «د کابل ښار پخوا د یونانیانو
له راتګه جوړ شوی وا و په ۷۷۰ پ م کښې
د آثور د پاچا (سالماناسار) له خوا جوړ او آباد
شوی دی» په ۹۰ پ م کښې یونانیان بېخی له مینځه
ولاړل او کوشانیان چه د افغانستان له آریائیانو
څخه د چارو دواګو خاوندان شول په هغه سکو چه
له دوی څخه پاتی ښکاری چه او سنی پښتنو ته ورته
دی ځکه پر دغو سکو داسې څېرې لیدل کېږی چه
جګې پزې او جګې ونې او ګڼ وپښتان لری.
دغه وخت کابل د دوی په لاس کښې له (۸۵) څخه تر
(۱۱۰) پورې (دوهم کدفزس) (هیما) پر کابل
حکومت کاوه دغه راز کابل په ۵۰۰ م د کوشانیانو
له لاسه خلاص شو او یفتلیانو ونیو او (توره مانا)
پر هغه حکومت وکړ تر (هیاطله) وروسته په
کابل کښې د کوشانیانو دوهمه سلسله راغله
چه هغه د کابلشاهانو په نامه یادوی، دغو پاچاهانو
تر ۸۸۰ م - ۲۶۷ ه پورې وروسته یو له بله
پر کابلستان حکومت کاوه چه په همدغه وختو
کښې عربان کابل ته په ډېر زحمت او کړاوننو تل
د دغه وخت کابلشاه د عربو په تعبیر (اعرج) نومېده
دی مسلمان شو او د کال یو ملیون درهم خراج یې
ومانه (عبدالرحمان تمیم) او (جبیر انصار)
او څه نور اصحاب د اسلامی فرایضو د تعلیم له پاره

کابل کښې پاتې شول نور بېرته وګرځېدل.
د کابل د فتح سره سم (حضرت عثمان) شهید شو
(اعرج) شاه هم مړ شو دده زوی (جیپال شاه) پاچا شو،
ده له موقع څخه استفاده وکړه
د خراج له ورکولو یې غاړه وغړوله او حضرات
تمیم او جبیر یې سره له نورو اصحابو په اوسنی
شهدای صالحین کښې په یرغل مړه کړل.
بیا د عربو ډیرې لښکرې پر کابل راغلې -
(جیپال پاچا) به له هغوی سره سختې مقابلې کولې
او پر له پسې ماتې به یې ورکولې په (۷۹ھ) کښې
عبدالملک مروان ګڼ لښکر جوړ کړ او دیوې
لویې حملې تیاری یې وکړ (جیپال پاچا) مړ شوی و.
دده زوی (رتبیل پاچا) چه (زنتبیل پاچا) یې هم
بولی د کابل واګی په لاس کښې واخست
دغه جوړ کړی عربی لښکر په سنه ۶۳ ھ کښې
کابل ته ورسېد خو دومره زړه در دوونکی ماتې
سره مخامخ شو چه د دوی په تاریخ کښې یې ساری
نه درلود. ډیر مړ شول او ډېر اسیران ونیول شول.
پاتې مسلمانانو اوه لکه در همه د کابل خلکو ته
ورکړه او ځانونه یې مخفی ژوندی وایستل.
په ۷۰۰م کښې د عربو یو بل لوی لښکر تیار شو
(رتبیل شاه) د کابل د غرو د پاسه دیوالونه جوړ کړه
تېر کښونه یې وایستل او دی کرار کښېناست
په دغسې مهم وخت کښې (زنتبیل پاچاه)
خپلې عیاشۍ او چړچې کولې، لښکر دیوالو ته
ورسېد. سخته زړه غورځوونکې جګړه روانه شوه.
د عربو د لښکرو مشر ووژل شو.

چه اوس د (شاه دوشمیره ولی) زیارت
ورباندې جوړ شوی. د کابل د خلکو معابد
د کابل د سیند پر دواړو خواوو جوړ شوی وو
چه دغه اوسنی جمات چه د زیارت تر مخې
چه د افغانستان د رسمی نښان په دود د رود له
غاړې جوړ شوی لمړنی جمات دی چه دیوه
معبد پر ځای درول شوی دی - (رتبیل پاچا)
پکتیا ته لاړ او خپل فعالیتونه یې کول. څو بیا یې
کابل ونیوه. باید وویل شی چه دغه سلسله
پاچاهان ټول رنبورک شاه، رتبیل شاه
زنتبیل شاه یادېدل. د هارون رشید په زمانه کښې
(۱۷۱ھ ۷۸۷م) کښې د خراسان ولایت جعفر بن
محمد بن اشعث ته ورکړ شو. هغه عباس خپل زوی
د کابل په نیولو وګماره. هغه کابل ونیوه. مګر
لږ وروسته د کابل پاچا اطاعت ته غاړه
کښې نه ښوده.

په ۲۵۷ھ کښې یعقوب لیث صفار پر کابل
حمله وکړه زنتبیل یا رتبیل ماته وکړه.
ده ځینې بتان مات او ځینې یې چه د سرو زرو
خلیفه ته ولیږل د نوموړی یوه سکه چه تاریخ یې
۲۶۰ دی او کابل کښې ضرب شوی ده شته.
وروسته تر صفاریانو یو بل قوم چه د هغوی
مشر (کالاله) نومېده کابل یې ونیو او وروستی
پاچا یې (جایاپایا) دی. کله چه نومړی پاچا مړ شو
او کابل په (۳۶۶ھ ۹۷۷م) کښې د سبکتګین شاه
د غزنی پاچا په لاس ورغی، او په ۵۴۷ ھ کښې
چه علاوالدین غوری پر غزنی بر شو کابل هم
د غوریانو شو. څه موده کابل د خوارزمشاهانو

په لاس کښې و چه چنګیز خان د ترمز له لارې زمو ږ هېوادته راننوت دده لښکر د سېلاب په شانې و. هر څه به یې تالا کول، په غزنی کښې ده سره خونړۍ مقابلې وشوې څرنګه چه دده لښکر زښت ډېرو نو کابل ته ننوتل. کابل بیا ډېره موده دمغلی کورنیو په لاس کښې و. امیر تیمور چه هندته لاړ، کابل کښې څه موده پاتې شو.

په ۹۱۰ کښې ظهیر الدین بابر کابل دځان کړ.. کابل بیا مرکز او پایتخت شو. نوې ودانۍ په کښې جوړې شوې تجارت او اقتصاد یې لوړ شو، چه له تصادفه یوه لویه زلزله وشوه د کابل او پغمان کورونه ودانۍ ورانې شوې ډېر خلك مړه شول او د پغمان او بیك توت ترمینځ یوه ټوټه ځمکه ایسته وغورځېده. له ځمکې او به ووتلې، دورځې به ۳۳ وارې ځمکه ښور ېدله په کابل کښې اوس هم د بابر او دده، دزامنو ډېر یادګارونه شته، او کابل د دوی په وخت کښې ډېر موړ او ښایسته و چه بابر د ځمکې جنت هم بللی، او خپل قبر یې دلته جوړ کړ (ده ویلی و چه ما په کابل کښې ښخ کړیء). دالو بالوونه ده کښېنو له او د کابل په ضرابخانه کښې طلایې سکې ضربېدلې. بابر دلته ښه ژوند تېر اوه او فکر یې هم بل شانې شو ځکه ده پر یوې تیبزې لیکلی:

(بابر بعیش کوش که عالم دوباره نیست)

په ۹۳۲م کښې پایتخت دهلی ته ولیږدول شو او ښکلی کابل و روور وخراب شو په ۱۱۵۱ کښې نادر افشار کابل ته راغی دی هندته تلونکی و خود کابل له سیاه سنګ نه پرده حمله وشوه او دی ډېره موده په دغو جګړو بوخت و چه د ده په نظر کښې نه و. یو کال وروسته بیا کابل ته راغی او څه عسکر یې پر ېښول او دی بېرته لاړ.

په کال ۱۱٦۰ کښې ستر واکمن معظم ټولواك احمدشاه بابا درانی د لوی افغانستان ټولواك شو د کابل او پېښور څو کلن مالیات یې تحصیل کړه د دغه کال په پای کښې لوړ درشل احمدشاه هندته د کابل له لارې تشریف یووړ. دوی پوهېدل چه کابل د افغانستان دستری واکمنۍ مرکز کښې واقع دی، نو د هغه د بیا ودانولو امر یې سردار محمد جانخان پوپلزایی ته ورکړ. دښار چاپېریو دیوال هم جوړ شو او ه دروازې هم ښار ته جوړې شوې څرنګه چه عزیزی شاعر دا کار داسې په پاړسو ستایی:

ثانی محمود احمد پادشاه
آنکه شد از امر حق عالم شکار
غم نبندد صورتی در عهد او
گر شود عالم همه آئینه وار
(۱) خان خانان آن امیر با گهر
آنکه گیرد جان ز خصم شهریار
امر کرد از لطف آن کیهان خدیو
از سر جاه و جلال و اقتدار
تا کشد حیفی ز بهر حفظ خلق
دور کابل همچو گردون پایدار

په ۱۱۸٦ه کښې معظم ټولواك تیمور شاه کابل ته د تفریح له پاره راغی بیانو دلته پاتې شو څو چه ۱۱۹۰ه ۱۷۷٦م کښې رسما کابل د افغانی ستری واکمنۍ مرکز شو او دا دی چه ترا و سه خپل مرکزیت لری

(۱) سپه سالار محمد جانخان پوپلزائی دخان خان لقب در لود

عزیز الفت

دکونړ په ساپیو کښې حقوقي تعاملات

الف : دښځې او میړه متقابله رویه او د هغوی حقوق او واجبات :

په ساپیو کښې به عام طور سره ښځه به مطلق ډول د میړه دارادو او تصمیم به عملي کیدو مجبوره ګڼله کیږي.

د ښځې پاک لمنتوب، او عفت د میړه په مقابل کښې، لومړۍ وجیبه ده.

له میړه سره اوږه په اوږه کار کول د ساپیو د ښځو دستور دی.

که د یوې ښځې پلار یا ورور، د هغې د میړه په مقابل کښې بدو کړی او د داړو خواوو ترمینځ بدی پیښه شي، په دغه حالت کښې هم ښځه د خپل میړه په خوا دریږي او د خپل میړه حیثیت او وقار له خپل ورور او پلار نه محترم ګڼي.

د کور ټول کار ـ سرشته او انتظام لکه د اولادونو روزنه او پالنه ـ د جامو مینځل ـ ډوډۍ پخول او نور د ښځې په لاس کښې وي.

د میړه له خپلوانو سره د خپلوۍ د تعلقاتو ساتل حتی د میړه ترمرګ وروسته هم، د ښځې کار دی. که میړه په کورنه وي د میلمه قدر او عزت د کاله میړمنې کوي.

ښځې د میړه له اجازې نه په پرته، چېرته هم نه شي تلی که څه هم ورور یا پلار کره وي.

که میړه دښمن داره وي، د شپې له خوا پیره هم د کور میړمنې کوي.

د میړه د ناجوړتیا ټول تکلیف په ښځې وي. د کور د ننه په ټولو اقتصادي ـ معاشرتي او نورو چارو کښې، ښځه له میړه سره لومړۍ مشوره ګره ده.

ښځه باید د میړه مخې ته سر توره ناسته نه وي او له غیر محرم سره په ډکه خوله ونه خاندي. د ښځې یو جزئي غیر اخلاقي حرکت له پردي سره د هغې په مرګ تمامیږي.

د جنګ په وخت کښې خپل میړه ته توره ـ ټوپک ـ کارتوس او خوراک رسول د ښځې وظیفه ده. که ښځه په چا توره شي د هغې فیصله پرته له مرګه په بل شي نه کیږي.

کله چه میړه مړ شي، ښځه ترڅو چه ډیره مجبوره نه شي بل میړه نه کوي.

خلاصه دا چه ښځه د ژوندانه په چارو کښې ترمور چله پورې د میړه ټینګه ملګري ده.

میړه د خپلې ښځې دارامۍ او خوشحالۍ لپاره هر رنګه تکلیف او مشقت تیر وي.

خپلې ښځې ته جامه ـ خوراک او د کور نور سامان برابر وي.

میړه د کور د اداره کوونکي حیثیت لري. د بهر ټول کار په میړه پورې اړه لري.

خودابايد ووايوخومره چه ښځه دمېړه اطاعت
اوامرته مجبوره ده دهغې په شلمه هم مېړه
د خپلې ښځې اوامرو ته اطاعت نه کوي.
مېړه مجبور دی چه له خپلې ښځې سره
د مينې په نوم داسې لراو بر نه شي چه دمحيط
خلك پرې و پوهيږي - مېړه بايد له خپلې
ښځې سره دغيره خلکو په مخکښې لږ ې
خبرې وکړي.

مېړه په مهمو کارو نو کښې له ښځې
سره سلا او مشورې ته نه دی مجبور. او
هرکار په خپله خوښه کوي، او د ژوندانه په
مهمو چارو کښې ځانته پوره ازادی لري.
دلور په ور کولو کښې، مېړه خپله ښځه
خبروي. همدارنګه کله چه خپل ځوی ته واده
کوي دښځې نه مشوره اخلي. مګر بياهم دی
مجبور نه دی چه دخپلې ښځې نظر يه ومني.
دښځې او مېړه تر مينځ، چل او
فريب قطعاً نشته او همیشه د دوی ترمينځ صميمی
فضاء موجوده وي.

کله چه مېړه دجنګ په مورچل کښې مړشي
ښځه يې توپك را اخلي او جنګيږي، ډيرو ښځو
خپل مېړونه له مرګه خلاص کړيدي.

ب: دمشرځوی او پلار ترمينځ رابطه حقوق:

پلار دفاميل لومړی مشر ګڼل کيږي او د کور
واک او اختيار دده دی مګر که په کوم کار کښې
اند ښمن شي بيا مشر ځوی سره سلا
او مشوره کوي.
پلار ته له نورو نه مشر ځوی زياتره د سلا
اومشورې حق لري.
پلار خپل مشر ځوی ورو - ورو د صحرا
معاملو ته روزي. دپلار رويه له مشرځوی سره
په خلکو کښې دمشر ځوی د اعتبار
سبب ګرځي.
کله چه پلار سپين زيری شي نو خپل ځوی
بې دې حد ته رارسولی وي چه په معاملاتو کښې
د ده ځای اشغال کړي.
مشرځوی دپلار ډير تعظيم او احترام کوي
بې دپلار له اجازې هيڅ کار ته اقدام نه شي
کولی. حتی تردې اندازې کله چه پلار ده ته
کومه ښځه کوي دې په کښې د ښو او بدو
د ويلو حق نه لري.
که پلار په خپل حيات کښې، خپل جايداد
په ځامنو وويشي نو مشرځوی ته دمشرانې په نوم
ډيره برخه ورکوي.
پلار چه په کومه جرګه او ټولنه کښې
ناست وي، مشرځوی داحترام په توګه ولاړ وي
او که کښيني له خپل پلار نه برنه کښيني.
مشرځوی په جرګو کښې په هيڅ صورت
دپلار خبره که څه هم غلطه وي ماتولی او
ترديد ولی نه شي.
مشرځوی په خپلو معاملاتو کښې، دخلکو
سره بايد خپل پلار خبر کړي، او کوم کسان بې

چه‌دپلار خوښ‌نه‌وی مشرځوی‌عرفاً مجبور دی چه‌له‌هغو سره‌ناسته‌ولاړه ونه کړی.

پلاردلور په‌ور کولو کښې ، له مشرځوی سره مشوره کوی.

ج:دمشرځوی‌اومورترمینځ‌رابطه او حقوق:

مشرځوی دنورو کشرانو په نسبت ځان دمور په‌خوشحاله ساتلو کښې زیات مجبور او مکلف گڼی.

مشرځوی د کورنۍ د وگړو بې‌احترامی دمور په‌مقابل کښې نه شی زغملای او ټول دمور اطاعت ته‌مجبور وی- مورهم دمشرځوی اوپلارترمینځ دخپگان مخه‌نیسی . مشرځوی په‌خپلوخصوصی چارو کښې (لکه واده او نور...) نظرخپل‌پلارته خپله‌مور ډیر په‌اسرارو خبروی،اوخپل‌ځینی‌مقصدونه‌دمور په‌واسطه‌په پلارمنی.اوپه‌دغسې‌پورتنیومسایلوکښې‌مشرځوی په‌خپل‌مورنظر خپل‌پلار ته‌زړه‌ورورځی.

مورخپل‌مشرځوی‌ته دپلار او نیکه کار نامی وریادوی.

ډیرومینځو دخپلو مېړونو قاتلان په خپلو ځامنودتحریك اوتشویق‌په وسیله وژلی دی،او خپل‌بدل یې اخستی دی.

مورمجبوره ده چه‌د مشرځوی د وستانوته په‌درنه ستر گه‌وگوری اوعزت‌یې‌وکړی.

د: کشران‌اوگرانې‌دمشرورور‌یامشرې‌خور سره‌په‌کوم‌طرز پیش‌آمد کوی.

کشران‌او کشرانې دمشرورو را و مشرې خور په‌مقابل کښې همیشه مطیع‌وی‌او وروسته دمور اوپلارنه دوی‌په‌ځان حقدار بولی.

مشرورور وروسته له‌پلاره دفامیل لومړې مشردی نوځکه‌یې‌ټول احترام کوی.

همداراز مشره‌خورلکه‌خپله‌مور گڼی.

کشران او کشرانې تل‌دمشر ورور او مشرې‌خور په مخ کښې د ناستې ولاړې کار په غاړه لری.

مشرورور اومشره خور هم‌له دوی سره هغه‌وضع کوی کوم چه‌د پلار اومور له خوا ورورسره کیږی.

مشرورور او مشره خور تل غواړی چه دکورو ړو ته ځینې ښه ښه شیان پیدا کاندی.

کشران‌او کشرانې په هرشی کښې ددوی احترام کوی او داولیت حق ورکوی . لکه لاس مینځل—ډوډی‌خوړل اونور.

دوی په لاره کښې هم‌له خپل مشرورور یامشرې خورنه مخکښې نه ځی.

د دوی رویه همیشه مؤدبانه او محترمانه وی

ه: مشره لوردپلار اومورپه مقابل کښې څه وظایف لري؟

دد ې لپاره چه مشره لور دنورولونوپه نسبت ژرمېرمن کېدو نکی ده نو له همدې جهته مورا کثراً د کوردننه کارونه لکه پخلی د کالیو مینځل او ګنډل دې ته ورښیی چه دمېړه په کاله کښې دمورستر ګې خړې نه کړی.

مشره لورد پلارد او داسه اوبه ورابروی اودلمانځه لپاره یې جای نماز وروړی.

مشره لورد کور په کار کښې له مور سره سمه برخه اخلی، او که کله مېلمه پېښیږی لومړی سرشته یې د مشرې لورپه غاړه وی.

دچالور چه دمېړه په کور کښې مړه شی، دهغې د مړی ټول مراسم اوم صرف د هغې دخپل پلار له خوا کیږی ځکه چه هغه د خپل پلار په مال کښې هېڅ د میراث برخه پرته له همدغه مصرف څخه بل حق نلری.

مشره لور د مور کالی مینځی، او ور برابروی یې. که کوم خپلوان کره غم اوښادی پېښیږی، اومورهغه کره په تلو مجبوره وی نوخپله مشره لورهم له ځانه سره بیایې.

له دې امله چه مشره لورژرد پلار له کوره تلونکی وی نود موراو پلار له خوانظرنورو اولاد ونوته په هر شی کښې هغې ته زیاته پاملرنه کیږی.

لورچه دپلار له خوا هرچا ته ور کړه شی که څه هم دغه سړی زوړ یابدرنګه وی دابه کښې دڅه ویلوحق نه لری.

مشره لور، په عمومی صورت، د کور په کارکښې دمور له خواو کیله وی

و: کورنۍ په عام طورلکه اداره - تنظیم اونمایندګی یې:

که چېرې پلار ژوندی وی نود کورنۍ عمومی مسؤلیت او اداره دپلار او په د وهمه درجه دمور په غاړه وی.

په بل عبارت د کورتنظیم دمور له خوا کیږی اواداره یې دپلارپه لاس کښې وی.

د کورځینې شیان په مؤقت ډول خلکوته ورکول د پلار کاردی.

هېڅ کاربې دمشرله اجازې نه شی اجراً کیدلی. چه نارینه موجود وی ښځه د فامیل اداره اونمایندګی نه شی کولی. په کور کښې چه دهرچا (دفامیل دوګړو) میلمه راشی که نارینه وی دپلارله خوا او که ښځه وی دمور له خوایې قدر اوعزت کیږی.

ترڅوچه مېلمه په دیره اوحجره کښې وی، اویاویده شوی نه وی پلار کورته نه شی راتلای له مېلمه سره یو ځای په ډوډۍ کښینا ستل دپلار (مشر) حق دی.

دخلکوپه جرګو اومرکو کښې نمایندګی اودفیصلی حق پلارته حاصل دی.

که چېرې پلار د کوم مجبوریت په اساس په دغه جرګه کښې ګډون ونه شی کړای

نو بیا دغه وظیفه مشر ځوی ته سپارل کیږی

په عمومی صورت ، ترڅو چه مشر ځوی ، دښځې خاوند شوی نه وی ، د کور ټوله اداره سرشته او نمایندګی یې د پلار له خوا کیږی . دښځو په ټولنو کښې ، د کور نمایندګی د مور په غاړه وی .

دهقان او مزدور ته د ځمکو او نورو کارونو په باره کښې امر او کار فرمایې د پلار له خوا کیږی ، او د هر چا کار دی ټاکی له دې امله چه پلار د کور نمایندګی کوی نو دی په کښې په آزاد ډول د هر راز تصرف حق لری او نور په کښې دومره آزاده اختیارات نه لری خپل ځوی ته دی پخپله خوښه واده کوی خپله لور دی پخپله خوښه خلکو ته ور کوی او همدا راز نور کارونه هم .

د ویم :

د همدی کورنی روابط له:

الف: دهقان او مزدور سره :

دهقان ته په هغه صورت کښې چه د دهقانۍ ټول اسباب (لکه غوایان او نور) یې خپل وی د پټی د حاصل دریمه برخه ور کوله کیږی ، او که قولبه او د دهقانۍ نور سامان د پټی د خاوند وی ، په هغه صورت کښې دهقان ته د حاصل پنځمه حصه ور کوله کیږی . دهقان باید د دهقانۍ ټول کار په ذمه واخلی . حتی دغلو او دانو رسول که په شاوی او یا په نورو وسایلو .

دهقان د میا ــ ملا ــ ترکان او اهنګر حقوق هم باید نیمایې له خپلې برخې نه ور کړی . برسېره په دې دهقان مجبور دی چه د پټی د خاوند شخصی کارونه او بیګارونه هم وکړی . که چېرې ، په عام طور سره ، کوم بیګار پېښ شی ، نو د بادار حصه هم د دهقان په غاړه وی . د دهقان وظیفه او وجیبه ده چه د پټی د خاوند دانې ژرندې ته یوسی . دغره نه ورته ګېډی راوړی ــ که مېلمانه یې پېښ شی د هغوی خدمت وکړی ــ که د خټو کار یې وی ، هغه ور له اجراء کړی ــ شولې یې ورته وریجې کړی .

د دهقان ښځه هم مجبوره وی چه د بادار د ښځې په امر د هغې کورته اوبه راوړی . د کور نه دننه او د کور نه د باندې ، کارونه یې وکړی .

که له چا سره د بادار د ښمنی پېښه شی ، دهقان مجبور دی ، چه د هغه د سر کوتک په خپله واخلی ، او خپل سر د هغه په سر کښې ور کړی . لنډه دا چه د دهقان تکلیف د بادار په مقابل کښې ډېر درونددی او کوم حاصل چه د ځمکې نه په لاس ورځی هغه د دومره زحمتونو او کړاوونو په نسبت جزئی وی که چېری دهقان د دهقانۍ په دوران کښې د بادار د امر نه یوه وربشه سرو غړوی ، نو باید دهقانی پریږدی او کوم بل چاپسې لاړشی ، او دهقانی ترې

وغواړی . مګر سره له دغه تولو کارونو د پټی خاوند خپل د هقان ته د ((روکی)) خطاب کوی او د بل چاله ظلم او جبر څخه یې خلاصوی . حتی له هغه سره خلکو د دعوې او جګړې مخه هم نیسی ، او د بل چا بد یی پرې نه لوریږی . دمزدور تکلیف خود دهقان نه هم زیات وی . ساپیو کښې ، په طبیعی صورت د کرکرونډې د پاره ځمکه ډیره کمه ده او په یوه من جوارو (په کونړ کښې) دیوې میاشتې دپاره هم مزدور پیدا کیږی . دمزدور دپاره کوم خاص کار حتمی نه وی ، بلکه د بادار چه هر کار پیش شی ، او مزدور حاضر وی باید اجرایې کړی . د مزدور حق یو څو منه دانې وی ، چه هغه هم جوار یا وربشې وی . البته دهغه خوراك هم دبادار په غاړه وی او که کومه زړه جامه دبادار کره پیداشی ، هغه هم مزدور ته ورکوی . دمزدور خوراك ، د نورو د خوراك په شان نه وی او هر څه چه ورکړی هغه باید څه ونه وایې او په شکر یې وخوری . چیرته چه کاروی په مزدور باروی . که مزدور ناجوړه شی ، دهغه دارو-درمل په خپله د هغه په غاړه وی او بادار پورې څه اړه نه لری ، که دبادار کوم شی دمزدور په ناروغی مصرف شی ، هغه د هغه په مزدوری کښې حسابیږی او مجرأ کیږی . که مزدور دبادار په کوم کار کښې دچاله خواوو هل شی ، او یا ټپی شی ، دهغه بد باید بادار او د مزدور کورنۍ یو رنګ وګالی ، او یو ښتنه یې وکړی . مزدور د خامتاد کالیو نه پرته ، دبل شی دعوه نه شي کولی . که مزدور ته دشړومبو او سکړ کونه بل څه نه ورکول کیږی نو هغه د غوښتنې حق نلری . هغه د کیدې د کیدو حق لری په هر څه چه وی . که چا خالي وتنه او بیازور کړل ، هم هغه باید په کښې څه ونه وایی ، او په براخه تنده یې وخوری . که بادار کره هر څه پاخه شوی وی - وی به ، خود ده خوراك معلوم وی . لنډه داچه د دهقان او مزدور وضع پریشانه ده او داله دې امله چه د خلکو تعداد نسبت ځمکې نه ، ډیر زیات دی او د معیشت دپاره وسایل لکه ځمکه - فابریکې او داسې نور وسایل چه خلک په کښې کار وکړی ، نشته ، او ډیر خلك مجبور دی چه دلږ شی په بدل ډیر تکلیف ومنی ، او د کیدې سوال رفع کاندی . د کار وخت دسهار له لمر ختلو نه تر ماخستن پورې وی ، او که کله ضرورت پیش شی دشپې له خوا هم باید کار وکړی .

ب: د کلیوالو سره پیش آمد او عمومی وضع:

که په ساپیو کښې یو سړی د شتمنۍ له مخې خوار وی ، وی به ، مګر د کلیوالو په لحاظ له نورو سره برابر دی ، او یو په بل کوم امتیاز نه لری . اصیل او کم اصل په کښې نشته .

که هر چا کره سړی وشی ، د کلي ټول خلك که تور زړی وی یا سپین زړی دمړی کورته باید حاضر شی که څه هم دښمن یې وی .

ترڅو چه مړی ښخ نه شی، ټول خلك مجبوره دی، چه هغلته واوسیږ ی دښاد ی ـ به کار کښې هم، د کلی ټول خلك برخه اخلی، او دښاد ی ـ دخاوند توله سرشته د کلی خلك یورنګ په غاړه لری. که چېرې کلی ته دپردیوله خوا کوم خطر پېش شی، د کلی ټول خلك ملا تړی، او په مدا فعه کښې یې برخه اخلی. هر څوك دخپل فامیل دواك او اختیار خاوند وی، او دهیچ چا مداخله په بل چا نشته، دغم او ښادی ـ به کار کښې یو بل ته مرسته کول د کلیوالی ـ اساسی شرط بولی.

هیڅوك بل ته په سپکه ستر که نه ګوری. په کلی کښې، دټولو حقوق سره مساوی دی. خانی او نوابی به کښې نه شته.

ج: د کلی له مشرانو او سپین زیرو سره:

د کلی مشران او سپین زیری به کلیوالی ژوند کښې خاص موقعیت لری، او په کلی کښې د خلکو تر مینځ د روابطو به برابر ولو او بر قرارسا تلو کښې لوی لاس لری.

د کلی خلك، دخپلو مشرانو او سپین زیرو دیرعزت کوی او په احترام ورته قایل دی. په کلی کښې چه هره بده یا ښه پېښه وشی، به هغې کښې ترټولو لومړی د مشرانو او سپین زیرو حضور شرط دی.

سپین زیری او مشران دخلکو تر مینځ په روغه کولو او جوړه راوستو کښې ډیر مؤثر دی. ډیر ې بد ی ـ او خپګانو نه دسپین زیرو په واسطه رفع کیږ ی او په روغه بد لیدا ی شی.

کومه فیصله چه سپین زیری یې و کړ ی، دهغې اطاعت د کلی دخلکو یو ضروری او اهم کار دی.

په کومو مجالسو او ټولنو کښې چه سپین زیری او مشران حاضر وی کشرا ن به کښې لږې خبر ې کوی.

دمشرا نو قدر او منزلت د ساپیو په کلیوالی ژوند کښې ډیر اوچت دی.

داسې ډیرشویدی، چه دخپل سپین زیری به بې عزتی، ټول کلی ـ ولس او کام را پاریدلی دی. وینی شو چه مشران او سپین زیری په ټولو پښتنو او خصوصاً ساپیو کښې، د قاضیانو او حاکمانو حیثیت او اعتبار لری او د دوی اوامر په هرچا نافذ وی.

(نور بیا)

د روح اطمینان

هغه ځای کښې وی د ژوند واړه خوندونه
چه څوك نه وینی څه زجر بې قانونه
اطمینان د روح او فکر هلته بویه
چه اصول او قوانین ګوی کارونه

(الفت)

ادبي نقد

معتمد شنواری

د افغانستان په معاصر ادب کښې

اجتماعي نظريات

په پورته نامه يوروسي کتاب چه په (۱٦٤) مخو کښې ليکل شويدی د شوروی د ختيځ پيژندنې موسسې د کتابخانې نه د کابل مجلې اداري ته په دې ورځو کښې ورسيد.

دا کتاب له دې حيثه چه افغانی ليکوال او ددوی اثارنور و خلکو ته و ر معرفی کوی ډير دقدر وړ دی.

دا کتاب د ښاغلی گيرس په مسئوليت دمسکو د علمی اکاډيمی د اسيايی ملت د موسسی د کارکوونکو له خوا ترتيب او چاپ شويدی. هغو کارکوونکو چه دې کتاب کښې سهم اخستی دی نومونه يې دا دی: گيراسيموا - گيرس - دووريانکوف او دروفيوا.

ددې کتاب هدف او د ليکلو غايه د افغانی ادبياتو د انکشاف او د رشد ښودل او د پښتنو ليکوالو د ريالیزم ښکاره کول دی.

دا کتاب په يوې مقدمې - نهو بابو نواو يوې تبصرې مشتمل دی. په مقدمه کښې د پښتو د ادب په څرنگوالی او داچه له کوم وخته را هيسې په کښې بارز تحول راغلی دی خبرې شوې دی او داهم په کښې ليکل شويدی چه د افغانی ادب زياته برخه او توجه تاريخی مسايلو، ملی نهضت او خپلواکی خواته گرځيدلې ده.

مقدمه ليکې: «د افکارو تنويرـ د ذهنيتونو انکشاف او پر مختگ ته ور بلنه د پښتنی ادب له اجزا وشخه گڼل کيږی، حقيقی وينا او په ادب کښې د نوی روح چليدل دا سې شيونه دی چه په افغانستان کښې د ټولو نه لومړی په پښتو ادب کښې محسوس شول او دې کار له هغه وخت راهيسی سر ونيو چه افغانستان خپلواکی ته و ر سيد».

بيا ليکی: «د نړۍ د دوهم جنگ نه وروسته د افغان ادب - کلتوری روابطو او اقتصاد ډير وړاندې تگ و کړ». ورپسی زياتوی: «پخوا د افغانی ادب موضوع محدوده وه او يوازې گل او بلبل - خط او خال - مخ او زلفې په کښې وی مگر د اوسنی ادب موضوع ډير وسعت لری او ښکاره تفاوت پکښې راغلی دی مثلا په نثر کښې د قصو - افسانو - دراموا وهر راز مضمون ليکلو موضوع مينځ ته را غلې ده او په شعر کښې قصيدې - غزنوی غزلې - منثور اشعار د نظم مختلف صورتونه او نور ډول ډول موضوعات زيات شوی دی - هوا ځينی خام او نوی ليکوال لا تراوسه د زلفو په دام کښې گير دی مگر لاز ور ته صافه شوې ده او داهيله ورنه کيږی چه د زلفو له ظلمات شخه به راووځی».

داهم باید وویل شی چه په مقدمه کښې دپښتو اوافغان په ادب یو عمومی نظر اچول شوید ی خومادلته یو څوټکی ورنه داختصار په ډول را نقل کړ ل .

دکتاب لومړی باب یالومړی مقاله :

داباب (دافغا نستان معا رف او د ا فغا نی ادب په اجتماعی نظریاتو باندې یې تاثیر) یو اوزد باب دی- په دې باب کښې دافغان دمعارف اوداچه معارف څومره په ادب اثراچولی د ی خبرې شوی دی اودالاندې اوه ټکی ورنه را وځی :

(۱)-دپښتو په ادبیاتو کښې دمعارف نظریه اوفکر پیدا شوی دی اود موضو ع له حیثه یې په ادب پوره تاثیر کړ ی دی .

(۲)-افغانی ادب توصیه کو ی چه دمعارف سره سره باید خپل ملی نو ا میس او عنعنوی خصو صیات هیر نکړای شی.

(۳)دډ یروادبی اثارونه مطلب دا د ی چه معارف باید دشاګرد ا نونه یوحقیقی پښتون جو ړ کړ ی .

(٤) -دپښتون اوړصفت له خپل هیواد سره مینه ده اودامینه بایدپه کښې وروزله شی .

(٥) .دځوانې طبقې تربیې ته ښایی زیاته توجه وشی.

(٦) دمعا رف خو ر ا ښه صفت د انسان دوستی غر یزې ته رشد ور کول دی .

۷ - معارف باید دښځو طبقه دنرا نوغوندې تر بیه کړی اودې رو زی .

په دې باب کښې دپښتنو لیکوالو اوشاعرانو تقر یباً ټول هغه اثار په روسی ترجمه شو ی دی کوم چه دمعارف په خصوص کښې ویل شوی دی .

دکتاب دوهم باب یادوهمه مقاله :

دا باب د ا فغانستان د هغو معاصرو ادبیاتو په موضوع کښې څېړنې کوی کوم چه د وطن د محبت او دوطن دخلکو په خصوص کښې ویل شوی د ی.

د ې باب کښې لیکل شو یدی چه دافغا نی ا دب زیاته او مهمه برخه دوطن او وطن والو محبت نیولې ده .په دې باب او په دې مقاله کښې دافغانی شا عرانو او لیکوالو هغه د جوش نه ډک ا شعار او نثرونه په روسی ترجمه شوی دی کوم چه دوطن او د و طن د خلکو په محبت ا و مینه کښې و یل شو یدی -- دملنګ جان خوږې نغمې اودده د سوزنه ډک اشعار په کښې ډېر اوړی ا و را اوړی اوهم داسې نور در واخله .

د رښتین د مقالې نه (دوطن مینه) د ا یوه حصه داسې ترجمه کوی: « هر پښتون دخپل هیواد سره دزړه له کومی محبت لری ا و خپل وطن ورته د کشمیر نه ډېر ښه ښکاری- په هند کښې دزړه پورې ګل چمبیلی دی مګر دهیواد اغزی ورنه ډېر ښایست اومقبولیت لر ی. »

دپښتو او پښتنولۍ په باره کښې داسې لیکی:
(پښتانه په پښتو او پښتنولۍ کښې دخپل یوالی تجسم و ینی او خپل ملی وحدت په همدې شی پورې مربوط ګڼې - همداسې د پښتو او پښتنولۍ په خصوص کښې ډیرې نورې خبرې شویدی او ځینې تبصرې هم ورباندې زیاتی شویدی ».

دکتاب دریم باب یا دریمه مقاله :

دامقاله دمملکت په انکشاف پورې اړه لری - دې مقاله کښې دبینوا ځینی ډرامی - دبختانی دګاډۍ اس - دالفت شعر (د پښتون حال) د مجروح د اشعار و ځینې ټوټې - د خادم څوڅلوریځې او داسې دنورولیکوالو اثارچه دې موضوع پورې اړه لری ترجمه شویدی .

دکتاب څلورم باب یا څلورمه مقاله :

دامقاله په افراط او تفریط (فقراوغنی) کښې لیکل شوېده - دلته هم دبینوا (پردل او کندل) ترجمه شویدی او ډیر نور پښتو شعرونه او نثرونه ترجمه شویدی .

د کتاب پنځم باب یا پنځمه مقاله :

دامقاله (ادبیات او داستعمار په ضد مبارزې) ډیره مهمه په وزړه پورې مقاله ده . دې مقاله کښې هغه اشعار چه د استعمار او متجاوزینو په مقابل کښې ویل شویدی او د استعمار نه یې کرکه ښکاره کړېده - راوړل شویدی - د پښتونستان په مقابل کښې د پاکستانی استعمار نادو دې هم یادې شویدی - دهمیش ګل همیش - الفت - سلیمی - ننګرهاری - خادم حتی دلوی احمد شاه بابا او خوشحال خان او نورو لویو او وړو پښتنو نظریات او اقوال ترجمه شوی او دروښانیانو دورې ستایل شویدی - دپېښور او خیبر ذکر په کښې راغلی دی او دمرحوم ملنګ جان او ازونه په کښې اوریدل کیږی .

د کتاب شپږم باب یا شپږمه مقاله :

دامقاله (دسولې او دملتونو د دوستۍ مفکوره) په لنډ طرز لیکل شوېده په دې مقاله کښې دافغان دوستی او سوله غوښتل ستایل شویدی او خصوصاً د هغو روابطو په هکله چه د شوروی اتحاد او افغان ولس په مینځ کښې شته ښه هر کلی شویدی او دسردار محمد داود د عصر څخه چه دنړۍ سره د سیاسی روابطو دښه ټینګېدو او پراختیا عصر دی یادونه شوېده او هغه د دوستۍ هیئتونه چه دشوروی او چین نه دلته او یاد دې ځای نه شوروی او چین ته تللی، دې مقاله کښې ښودل شویدی او هم ځینې هغه ادبیات چه دوستۍ او سولې ته راجع دی ترجمه شویدی .

دکتاب اوم باب یا اومه مقاله :

دامقاله (په ادبیاتو کښې دواقعیت لیکلو نوی رنګ «ریالزم» هم یوه دزړه پورې مقاله ده - شوروی لیکوالو په دې موضوع کښې پښتانه

لیکوال سنایلی دی- ځینې اشعار او نثرونه یې د مثال په ډول راوړی دی- دغوره اشعارونه یې (دوه ماموران - غریب ما شوم - بند یوان) ترجمه کړی دی.

د کتاب اتم باب یا اتمه مقاله:

دامقاله (دژوند او ادب په مینځ کښې ارتباط) هم یوه لنډه غوندې مقاله ده - په دې کښې هم دافغانی دنیا د لیکوالو اثار کوم چه په دې موضوع پورې ارتباط لری راوړل شوی دی.

د کتاب نهم باب یا نهمه مقاله:

دامقاله (دافغانستان د لیکوالو لنډه سوانح) یوه داسې مقاله ده چه افغانی رجال او افغانی لیکوال نورې دنیا ته ورپیژنی- په دی مقاله کښې د هغو لیکوالو دژوند او د شخصیت لنډ بیان راغلی دی کوم چه د کتاب په متن کښې ذکر شوی دی- د مثال په ډول د افغانی رجالو نه ښاغلی سید شمس الدین مجروح چه د کتاب په متن کښې یې اثار راغلی دی داسې معرفی کوی: (سید شمس الدین مجروح د افغانستان یو لوی شاعر دی - حکومتی او ملی شخصیت لری - داعیانو د مجلس غړی و- دافغانستان په ملی بانک کښې بی کار کاوه - د دې څو کلو راهیسی د قبایلو د چارو لار ښوونکی او مشر دی- د ده اشعار به د مملکت په مختلفو جرایدو او نشراتی ارګانو کښې چاپیدل - په (۱۹۵۸) کال کښې د ده د اشعارو مجموعه په کابل کښې نشر شوه- مجروح په مملکت کښې د عمر خیام د مترجم په حیث شهرت لری) او په همدې ترتیب یې د نورو لیکوالو لنډه سوانح لیکلی ده چه زه یې دلته یوازی نومونه په لاندې ډول لیکم او د سوانحو نه یې صرف نظر کوم:

عبدالقادر رخټک - عبدالحمید مومند - عبدالرحمن مومند - عزیز الرحمن فتحی - غلام محی الدین ایوبی - محمد نادر ایوبی - احمدشاه درانی - عبدالله احرار - عبدالله بختانی - میرزا عبدالقادر بیدل - عبدالروف بینوا - عبدالحق واله - بسمل زاده - عبدالغفور برینښنا - صوفی عبدالحق بیتاب - عبدالخالق واسعی - عبدالمنان دردمند - غلام جیلانی جلالی - غلام رحمان جرار - محمد دین ژواک - محمد حیدر ژوبل - امین الله زمریالی محمد رحیم الهام - محمد حسن کاکړ - سیلاب کامه وال - عبدالشکور رشاد - محمد رفیق قانع - حافظ عبدالله قاری ضیا قاری زاده - حمید کشمیری - احمد علی کهزاد - برهان الدین کشککی رشید لطیفی - ملنګ جان - مستوره افغان محجوبه - مخفی بدخشی - محمد گلاب ننګرهاری - نجیبه نژند - محمد نسیم نوری - عبدالرحمان پژواک - عبدالقدوس پرهیز محمد یوسف روشنفکر - صدیق الله رښتین - سید قاسم رښتیا - محمد ارسلان سلیمی -

محمد حسن ساپی - غلام حسن ساپی
میراجان سیال - عبدالروف طالع -
نور محمد تره کی - محمود طرزی - تیمور شاه درانی
نجیب الله تورو ایانا - حبیب الله تبزی
ګل پاچا الفت - غلام علی امید - روشن ضمیر عثمانی
فوزیه انجمن - فرخی سیستانی -
قیام الدین خادم - غلام غوث خیبری
خلیل الله خلیلی (خلیلی افغان) ابراهیم خلیل
محمد ابراهیم خواخوږی - خوشحال خان خټك
شایق جمال - میر غلام حضرت شایق
شایق هروی - کاظم خان شیدا
او شمس الدین کاکړاو نور.

تبصره:

په تبصره کښې د هر هغه مضمون چه په روسی ترجمه شوی دی ماء خذ ښودل شوی دی - دې کار ډیر سهولت پیدا کړی دی په دی چه دسړی اشتبا وباسی - مثلا دژواك یو مضمون د کتاب په متن کښې ترجمه شوی دی - د لته لوستونکی ته اشتبا پیدا کیږی چه داد کوم ځای نه اخستل شوی دی - نو که تبصرې ته مراجعه وشی ورته معلومیږی چه د فلانی ځای نه اخستل شوی دی.

داو هغه څه چه د کتاب په متعلق په لنډه توګه ولیکل شوه.

پای

لوستونکی دې خبر وی چه دنړۍ د ادبیاتو
برخه چه پر له پسی خپریږی د مضامینو
دزیاتوالی له امله بلې ګڼې
ته ټال شوه.

اداره

لوی موفقیت

دسبز کال دحمل ۲۳ مې ډېره ستره پېښه دنیا والو ته اعلام کړه — دا پېښه په یوې ۴۷۲۵ کیلو ګرامه یې فضایی بېړۍ کښې دمځکې ګرد چار پیرنه د انسان تاوول و — چه دمځکې له سطح نه د ۳۰۲ او ۱۷۵ کیلو متر وتر مینځ فاصله کښې په ۱،۸۹ دقیقو کښې وڅرخید — او وروسته روغ رمټ بیرته مځکې ته را کوز شو.

د کښتۍ نوم ((شرق)) او دانسان دا ((یوری ګاګارین)) و. دشوروی پوهانو ددغه بې ساری او سترساینسی موفقیت په باب مونږ دپښتو اکاډمی ددغو لاندنیو محترمو غړیو نظریات وغوښتل چه دادی ګرانو لوستونکو ته یې وړاندې کوو. اداره

ګل پاچا الفت

د پښتو ټولنې، او دافغان او شوروی ددوستۍ ټولنې رئیس

یوری ګاګارین

له دې نړۍ نه وتل او بیرته دې نړۍ ته راتلل داسې مثال لری لکه چه روح له بدنه لوړ عالم ته والوزی او بیا بیرته خپل کالبوت ته راښکته شی.

انسان په زرګونو کالو د ترقۍ په لور هرې خوا ته منډې ووهلې مګر تر اوسه بې د ځمکې له کرې نه دباندې قدم نه وایښی.

دالومړی ځل دی چه ښاغلی ګاګارین د شوروی پوهانو په مرسته د کرهٔ ارض له هوا نه او چت پرواز

وکړچه دعلم او پوهې په لحاظ ډېرلوی بریالیتوب اودلوړ عالم دتسخیر فتح الباب ورته ویلی شو . داسفر له هغوتولوسفرونونه چه انسان تراوسه کړیدی لوړ او عالی دی له دې لوی او مهم سفر نه بیرته صحیح او سلامت راتګ دشوروی پوهانو دعلمی اوعقلی نبوغ ډېرلوی ثبوت دی او پدې ارزی چه داتحاد جماهیرشوروی — په ملیو نو وګړی پرې افتخار وکړی او ددنیا په کرو ړونو خلق ورته افرین اومبارکبا دووایی .

دا کار که په خصوصی لحاظ دشورویانو ډېر لوی علمی موفقیت او لوړ والی ثابتوی - نو په عمومی لحاظ د ټول بشریت دپاره یو نوی دور ګڼل کیږی چه ډېرستر تحولات او نوی اکتشافات ور پسې را روان دی .

کېدای شی چه بشر ددغسې اوړو پروازونو له برکته ډېرلوړ نظر او ډېرعالی همت پیدا کړی او په اخلاقی لحاظ له ټیټو خواهشانو نه ډېر اوچت شی.

قیام الدین خادم

د پښتو ټولنې غړی

دجنګ او امن په باب ډېرې خبرې شوې دی ، خوزما عقیده داده چه دامن او مینې نړۍ جوړیدای شی — دجهان ډېر زیات وګړی دامن دجهان ارزولری - دا ډېرلږ خلك دی چه خپله لوبی دجګړی په واسطه لاس ته راوستل غواړی . کوم وخت چه په (هیروشیما) او (ناګاساکی) باندې ایټمی بمونه وچاودل، نوددنیا غوږونه شك شول - ورپسې امریکی امتحانی بمونه وچول چه ددنیا غونی پرې زیږشو . وروسته بیا کونګوسی شو چه اتحاد شوروی هم ایټمی بم جوړ کړی دی ترڅو چه له مسکو څخه اعلان وشو - اوس نو دجهانی صلحی خبرې پیداشوې او ایټم د صلحی به چارو کښې مسئله منځ ته راغله - تردې وروسته ډېرژر دنیا سپوتنیکونه او تغوندی ولیدل. لمر سپوږمۍ او ستوروته توغونې شروع شوې - دایټم او ذرې دعصر نوې خبره ، خارجی فضاته د انسان الوتل او بیرته روغ رمټ راښکته کېدل وو — چه اتحاد شوروی وربانده له نورو مخکښې بریالی شو — زه داحادثه دامن او مینې دنړۍ پرخوا دانسان یودوه نیم سوه کیلومتره ګام ګڼم. او خپل ګاونډی مملکت اتحاد شوروی ته یې مبارکی ورکوم .

م - عبدالخالق - واسعی

دپښتو ټولنې غړی

او دلغاتو د څانګې مدیر

انسانی استعداد او بشری لیاقت ورځ په ورځ بلکه ګړی - په ګړی - را برسیره کېږی او تبارز کوی . همدغه سبب دی چه د خلقت دابتدا څخه بیاتر اوسه پورې ، دانسانی سعادت او بشری ښه مرغۍ وسایل یو په بل پسې وروسته رابیدا کېدونکی دی، او دعلمی اکتشاف له لارې څخه زموږ غوږ ته د بشر د هغو اقداماتو — اطلاعات را رسیږی کوم چه نړۍ ګوته په غاښ ورته نیولې وی . نن پرون چه د شوروی د ستر ملت یو نیکمرغه فرد او د بشری ټولنې یو اسان ((ګاګارین)) ماوراي جوته لیږل شوی او ددې حیرت راوړونکی مسافرت څخه موفق راګرزیدلی ، روغ رمټ ځمکی ته کښته شویدې هغه کامیابی او موفقیت دی چه د بشری نړۍ او علمی دنیا دخوب خوږ تعبیر او خوندور زیری

پکښې مضمر دی - او داسی پیغام بشری نړۍ ته راوړی چه دا خوب ختونکی دی یعنی بشر به ژروی که وروسته د یوې بلې مګر ښکلې او بې مخې نړۍ څښتن شي ، او د علمې جهان دا ارمان به هم وخیږي ، خو د ښه مرغه به ددې ارمان ختلو لومړې افتخار په جوامعو کښې د شوروي هسکې جامعې او په افراد و کښې دستر شخصیت ښاغلی « ګاګارین » په برخه وی او هسکه جامعه او هسک شخصیت به څو جوامع او دا افراد د ژوند پرمینه او نړۍ ودانه وی په فوق العاده احترام یاد یږي - او لکه موږ چه تبریکات وروړاندې کوو راتلونکی قرنونه او زمان به هم په نمانځنه کښې نغښتی تبریکات ور لیږی .

محمد حسن ساپی

دپښتو ټولنې غړی

او دادب دڅانګې مدیر

زمونږ ښه په یاد دی چه څه موده پخوا د شوروی اتحاد د علومو اکاډیمې د ځمکی مدار ته یو سپی واستاوه او ژوندی یې بیرته راکوز کړ . دادی د حمل په ۲۳ نیټه په دې هم بریالی شو چه یو باشعوره او د ازادې ارادې څښتن انسان د یوې فضایی بېړۍ په ترڅ کښې د ځمکې مدار ته هغه هم په ډیر لږ وخت کښې واستوی او روغ رمی یې بیرته هغه ځای ته چه د مخه ورته ټاکل شوې و - راکوز کاندی . هو! د بشر په تاریخ کښې دا پیښه ډیره لویه او د بشری قدرتونو او استعدادونو ډیره ستره او روښانه نمونه ګڼل کیږی البته د دې دواړو پیښو ترمنځ ډیر ورته والی او مشابهت او مشترکې وجهې په زیاته اندازه موجودې دی - چه بنا په دې دغه وروستۍ پیښه یو ابتکار نشو ګڼلای . خو هغه څه چه دغې وروستۍ پیښې ته یې خاص امتیاز ورکړی هغه د ښاغلی یوری ګاګارین ایثار او سرښندنه وه - چه د بشری ثقافت او پوهنې دانکشاف او پر اختیا په لار کښې یې د خپلې ازادې ارادې له مخې کړیده : زه د بشری کورنۍ د یو غړی په حیث د شوروی اتحاد د علومو د اکاډمۍ د غسې کامیابی ته مبارکی وایم او د ښاغلی یوری ګاګارین د غسې ایثار او فداکاری د ډیر قدر وړ او د بشری تاریخ یوه نه هیریدونکې او له افتخار نه ډکه خاطره ګڼم . او دا هم باید و وایم چه د شوروی اتحاد د علومو د اکاډمۍ یو فوق العاده ابتکار او بری دادی چه کوښښ کوی چه د جهان تسلیحاتی رقابت په علمی رقابت بدل کاندې او دغه رقابت زمونږ له وړې ځمکې نه د اسمان خواته وشړی .

حبیب الله تبزی

دپښتو ټولنې غړی

زه باور لرم چه د ((ګاګارین)) د فضا ته تګ خبر واړو بشر دوستانو ته - چا ته له یوه نظره او چا ته له بل نظره - یو په زړه پورې او له خوښۍ څخه ډک خبر و . اما - ما ته ترټولو نه زیات له دې امله ډیر په زړه پورې او له خوښۍ څخه ډک خبر و چه د نړۍ د زاړه منطق او طرز تفکر یوه ډیره پلنه پاڼه یې په علمی ډول سره نزدې کاملاً منقلبه کړه . نوله دې امله شوروي پوهانو ته د دې ستر بشری بریالیتوب ډیره ډیره مبارکی وایم .

سعدالدین شپون

دپښتو ټولنې غړی

د شوروی یوهانودا کامیابی د بشر د یوه زاړه ارمان دسرته رسولو په لار کښې یو ګام دی.

میجر ګاګارین برسېره پردې چه ځان ته یوابدی افتخار رو ګاته دعلم دنیاته یې دوه لوی خدمتونه و کړل. (۱) - ثابته یې کړه چه دانسان ننني علمي متود درست دی، یعنی هغه ټول شرایط چه ګاګارین عملاً و ر سره مخامخ شو له اصل تیوری سره مطابق وو. په بله ژبه مونږ امیدار لی شو چه دانسان پوهه نه یوازې په مځکنی حادثو محدوده ده بلکه هغه تیوریکانې چه هغه یې دوسیه وطبیعی قواوو د پاره وضع کړی دی هم په واقعیت و لاړې دی. (۲)- دعلم دنیلی دجولان د پاره یې نوې لارې پرانستله. دانسان پوهه پخوا تردې په دوومایکروسکوپیك اوما کروسکوپیك برخوویشله کېده دمایکروسکوپیك پوهې سیمه پراخه وه خودهابلې ځانګې په باره کښې مودیو سیل بین په حیث نظریه ور کوله. اوس د دې دپاره مقدمه برابره شوې چه سپوږمۍ او نور وستوروته تګ وشی او دهغوی مواد ترذره بین لاندې و کتل شی راز راز تجربو لاندې راوستل شی او حتی الوسع د بشرد ښېګڼې دپاره کارتې واخستل شی.

د دې اتلوالې افتخار ګاګارین، شوروی پوهانو، او په لویه پیمانه انسان ته منسوب دی، هغه انسان ته چه دطبیعت یو داسې نازولی زوی دی چه مور خپل رازونه ورته وایی.

محمددین ژواك

دپښتو ټولنې غړی

لږ شپې روځې د مخه، کابل راډیو دغرمې د سر و یس د خبرو نو په منځ کښې و ویل: «دلیږ ښوونځی خبر چه همدغه اوس راورسېد، ددې ډول خبرو نو اوریدل معمولاً داهمیت وړوی نو ځکه زه هم یوغو ږ شوم ... نطاق و ویل: «داتحادشوروی له حوا انسان فضاته ولیږل شو» د خبراوریدلو ډیرخوش کړم - دومره چه په دې وخت کښې داسوال قطعاً نه و را سره پیدا شوی چه دا کارچاو کړاو په کوم غرض. مګر دیو ډول فوق العاده افتخاری احساس سره مخامخ وم چه دهغه تعلق زمادپاره ځان بشر ګڼل او بشرته دا اقدام لویه کامیابی بلل و. څرنګه چه دی خبر زما هغه عالي احساس چه ځان ترځان لوړ ګڼل او عالمی بحرته خپل دځاځکی اچول وی راتحریك کړ، نوزه ځان ته دهمد ومرې خوښی حق و ر کوم خوبه دې هیله چه بشر د ې نورهم پر مخ ولاړشی. دبشر دخیراو فلاح په غرض چه هغه زه با دوامه صلح اوسلم ګڼم نه بل شی.

محمدحسن کاکړ

دپښتو ټولنې غړی او د کابل مجلې چلوونکی

انسان دځان دبقا اوارام دپاره لویې مبارزې په مخ کښې لری. ډیره ستره یې هغه ده چه طبیعی قوتونه ایل کړی، اوپرې غالب شی. ددغه منظور د پاره لګبادی له خپل پیدایښت نه تردې ورځی لارې چارې لټوی اودطبیعت په داخلی اسرارو او قوانینو ځان پوهوی. د شوروی پوهانو وروستی علمی بری دهمد غسې مبارزو اوعلمی لټون یو ښکاره مثال دی چه د بشر د وروستیو اکتشافاتو دپاره زیات ارزښت لری. زه دا پېښه چه د کایناتو دفتح په لور دانسان یو بې ساری ګام دی ټولو انسانانو ته مهم او مفیده بولم او شوروی پوهانو او ګاګارین ته یې دموفقیت مبارکی وایم.

په تیر کال کښې د پښتو ټولنې مطبوع اثار

پښتو ټولنې په تیر کال کښې - برسیره په نور ومسلکی چارو دغه لاندې کتابونه - تالیفات او تراجم چاپ کړي - داسې ټې هم نور اثار برابر کړی - چه بس د طبع انتظار باسی . هیله ده چه هغه هم په نزدې اینده کښې چاپ شی او کرانو علاقمنو رسیږی - علاقمن کولی شی چه د پښتو ټولنې پخوانی او پر وسزن مطبوع اثار په ارزانه بیه له پښتو ټولنې او یا پانوځای نه په لاس راوړی :

د کتاب نوم	مؤلف یا مترجم	موضوع	د صفحو شمیر	د طبع شمیر	دیوه ټوک بیه په افغانۍ
خیالی دنیا	خادم	غوره ادبی پارچی چه روحیه یی اجتماعی ده او کاملاً په نوی سبک کښل شوې دی	٩٤	١٠٠٠	١٦
دافغانستان دځینو ژبو او لهجو قاموس	عبد الله بدخشی	د افغانستان د پامیر د شاوخوا دپښتو لهجو (سنګلیچی - واخی اشکاشمی - منجی - شغنی) او دوه ژبو (پښتو او فارسی) قاموس چه ٥٠٠٠ لغتونه لری	٢٢٥	٣٠٠٠	٢٤
د غنی پلوشې	غنی خان	دغنی خان د ٢٣ کلونو د اشعارو مجموعه ده چه لبزوړ برشپږ نیم زره بیته او عشقی - فلسفی حماسی او اجتماعی رنګ لری او به پوره نوی سبک ویل شوی دی .	٢٣٦	٣٠٠٠	٥٠/٥٨
لیکوالی (املاء او انشاء)	الفت	له املا او انشا نه غږیږی او د پښتو نخواد زیاترو پخوانیو او او سنیو لیکوالو د غوره لیکنو نمونې معرفی کوی.	٢٢٠	٣٠٠٠	٣٥
رنړا	صداقت	د رنړا په باب لومړنی اساس معلومات ورکوی	٤٤	١٠٠٠	
دماکسیم ګورکی ادبی لیکونه.	ح کاکړ	د ګورکی هغه لیکونه دی چه د خپل وخت شوروی دنړۍ لیکوالو ته یې او د ادبی نقد په باب استولی دی .	٤٦	١٥٠٠	١٠

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy, Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Paeha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

د و اتمی مطبعه